**حمد**

جوړکړی ئې جهان پرخپل قانون دی
حرکت کې برکت ایښی مضمون دی
هیڅ هم نسته بې علته چي به یون کړي
یا به هم په حرکت کی یوسکون کړي

یو د بله هم تضا د وي هم یو کیږي
داضدادو فلسفه ده دابه تل داسي چلیږي
هریونوم چي پرایږدې هغه هم دی دی
په قدرت اوفصاحت کي ښکاره دی دی

هروجود کي ئې وحد ت وحد ت وجود دی
د مغلقوکائناتوپه جوړښت کي ئې شهود دی
دیوې پانې جها ن کې پروت لوی جها ن دی
په یوه زره اتم کې راته ایښی لوی نظام دی

که شهودغواړې شهود د ده عیان دی
که وجودغواړې اوجود د ده بیان دی
هر انسان چي په هر راز کي لټولی
چاه یونوم اوچا ه بل نوم ورته ټاکلی

ټول صفت دیوذات اودایزدان کړي
په جلا ، جلا نومونوبه ئې یاد کړي

ټول مخلوق بې عبا د ت دده د نا م کړي
خومیتود ئې په بل ډول په بل شان کړي
که څوک ښه کوی اختیارئې دخپل ښودی
که څوک بد کړي تر ابده ئې مخ توردی
په خپل عقل فکر هر څوک چي آزاد دی
خومجبوره په قانون د د ې وا کدار دی
هم مجبوريوهم اختیارلروپه ځان کي
دجوړښت انګیزه دی لري جهان کې
د بد یوداختیارما لک اختیارلري په عقل
ښو او بد و کې مختا ردی په خپل نقل
د قسمت په خوی کې هیڅوک هم ګرم نه دی
دانصاف ترازو پروت دی څوک سپک نه دی
خپل عمل دلاري مل دی دا هم هلته زخیره دی
چي کرې هغه ریبې پر هر فصل مو با وردی
ښه او بد هم په اختیار کي دي دعقل اودفضل
په د نیا اوخیرت کې سته توپیرد دغه شکل
زه ننګیال بڅرکی حمد وایم ود ته په خپل فکر
بیله دې چی ئې عوض غواړم دفکراو د ذ کر

**نعت**

دپیغام راوړل ومونږ ته بې ځه نه دي
دانصاف تلل د چاه په توان کي نه دي
نه به څوک صاحب دنوم اودنښان سي
بیله دې چي دی د زړونوخریدارسي
یوظالم اوبل مظلوم چي پرجهان وي
عدالت ددوی په منځ کی به ډیرګران وي
عقل ولاړسي ځنګلي وحشي قانون سي
دوحشت په تاریکوکي پیغام پا س سي
زمونږ دنیاته دا پیغام رسول را وړی
په یوخواکی ئې حد یث دی توضیح کړی
بلي خواته هم قران پر نازل سوی
بې مقصد زمونږنبي نه دی راغلی
محمدرسولوالله انسان دی دوست بللی
هرانسان ته ئې په برخه کړل حقونه
هم پرنراوهم ښځوئې لازم کړل ښه خویونه
شریعت ئې پرنازل کی فاسد یې په مجرم کی
بشري حقوق ئې ورکړل وانسان ته
خلا ص ئې کړله تحریمونه، بندیزونه

چي دتوراوسپين تر منځ ئې اختلاف ؤ

دهغوترمنځ ئې خلاص کړل ځيځيرونه

دا د ښځو حق تر هغه حد لا تير سؤ

وکړی زده کړه ها دچين ترديوالونو

پردنيا چي دی د خلکوخد متګار وي

دالله وي نازولی پرالله به څونده ګران وي

زه ننګيال بځرکی ځکه ئې صفت کړم

په هروخت کې ښه اوبدته قضاوت کړم

**دغم څا څکی**

زما داښکو باران اوري په چمن کي

دچمن خس ا وخا شه به په سمن کي

نه احساس اونه پيما ن مې ورسره دی

خو دزړه مراد مې پوره سي په عمل کې

که داوښـــکـــو په بـــارا ن چمن او بيړي

زه به اوښکي خپل لښتي کړم په چمن کې

په دوستیٔ کي دښمني دخپلو وينم

هريو وايي سرښندمه په وطن کي

وهيواد ته چي دغــــلو لاره پيدا سوه

هريوه يې ځان آباد کی په دې چم کي

پيژندل دهيوادوالو اوس ډير ګرا ن سوه

ځکه ټوله را ټول سوي په دې غم کي

زما په اوښکو که کيدای مابـهيولــــــه

بيهوده چي اوښکي ولاړې په وطن کي

ډيردوپه لاس مو خپله ځان احصارکی

غلا مي مــوکړه قبلوله په خپل د م کـــي

اوس د خپلو اسويليووچ با د ونه

پرباغونورا الوتي په تور تم کي

ددې غټو قدرتونودباروتودانشګاه سوه

افغانان که ويني توی کي په دې غم کې

نه چمن بيرته را شين سوزما په او ښکو

نه ارمان به موتر سره سي ژوند کي

**بې وطنه**

چي دياردید ن مي په کښي نه وي

دانوڅه دی هغه کورماته نسکوردی

چي وطن وي يارپرڅنګ را سره نه وي

هغه ځنګ ماته نو څه دی يو پيغور دی

دګلونو په باغچوکي مي آشنا ګل پيدا نه سو

ځکه ګرځم په باغوکې یارمي پیدا نه سو

هغه څه راته عطادي په دې بڼ کې

خوبلبل ته خپله نا اشنایم په مقرکې

بې وطنه که هرڅوک ښاداوسمسوروي

دپردو وطن څوک نه اخلي خپل تن کي

نوراځی چي هغه خپل باغ ته ورکوچ سو

هم قبول کړو یواوبل په خپل بغل کي

د د ښمن په لاس ما ر نه دی چاه وژلی

نه به جوړکړوخپل هیوادپه دغه چل کي

زما آرزو دهیواد والو څخه دا ده

چي لاسونه سره ورکړی په عمل کي

که څه ګران دی دغه چل وهرافغان ته

د بڅرکي عقل دومره دی په سر کي

**((ډیمو کراسي د خلکو حق دی یوه ادبي ټوټه))**

ته هغه څه خوښوې ، چي ستا خوښ وي

خو زه بیا هغه څه خوښوم،چي ته یې نه خوښوې

فرق او توپیرزما اوستا په خلکوکي دی

خلک اورواج دواړه دټولني حاکم قوتونه دي

ددوی ترمنځ ګډ تکی دادی چي دواړه رواج لري

ولي ستا خلک زما دخلکو سره په رواج کي تو پير لري

که زه خپل فکراورواج پرتا په زوره نه قبلوم

خو ستا څخه هم دا توقع نه لرم

چي خپل فکراورواج پرما په زوره ونه ترپې

ته په خپل ملک کي خلکو ته دخلکو حکومت غواړې

خو زما په ملک کي دخلکوواواز ته غوږ نه نیسې

ودې ته بې انصافي ، ظلم وحشت اوبې پرواي وايي

خوکه ته زما ټولنیزو قوانینوته په درنه سترګه وګورې

اوزه هم په خپل وار سره وتاته په درنه سترګه وګورم

ودې ته ښه ګذاره،ددوستۍ اړیکي اونړیواله ټولنه وايي

داځکه چي دنړۍ پرسرانسانان یواوبل ته ددرناوي په لرلو سره ژوند کوي

خو که هروخت تا زما درناوی وکړه ، نو زه به هرومروستا درناوی کوم

ددوستۍ رمز په همدغه تارسره تړلی دی

ته وماته څه را که ، خوزه به هم تا ته څه درکم

چي ودې ته ګډ ي ګټي وايي

اودنړۍ ټوله خلک ګډي ګټي خوښوي

موږ کولای سو چي پردغه روحیه نړۍ په یوه جال کي سره راغونډه کړو

چي ودې ته یوه نړۍ او ګلو بالیزم سیا سي اصطلاح ایښودل سوې ده

او ګلو با لیزم بیا پر ډیمو کراتیکو اصولوولاړ دی

ډيمو کراسي په نظامي قوتونو نه جوړيږي

ډيمو کراسي ديوه هيواده وبل هيواد ته نه صادريږي

نوکه يې څوک په عسکرو جوړوي،هغه به ديکتاتوري وي

اويا يې هم په کروزرا کيټنو سره په خلکو مني.

نو نتيجه به يې خرابه وي ، چي موږيې نتيجه په عراق اوافغانستان کي ګورو

که خلک خپله ټولنه خپله جوړه کړي،نتيجه به يې ښه وي

دبد عمل نتيجه هميشه بده وي اودښو کړنو نتيجه هميشه ښه وي

نورا ځئ چي بيا هم دا ومنو چي ډيموکراسي نه صاددريږي

دخلکو حکومت هغه وخت جوړيږي چي خلک يې خپله وغواړي

نو هغه حکومت چي دخلکو په خوښه جوړسو، دهغه سره به دخلکو ملاتړ وي

هغه به دنړۍ دپاره ګټوراودنړۍ خلک به هم دډموکراټيک دولت شاه ته ولاړوي

که نړيوال دخلکو حق ته غاړه کيښوده ، نو جنجال به دنړۍ دسره ورک سي

نورا ځي چي حق وپيژنو او جنجال دنړۍ دسره ورک کړو.

**د۲۰۱۰م کال اختر**

تر فلکه فواري ځي دسرو وينو

نو اختر خو داسي نه دی

دهيواده کرږي اوری تر آسمانه

خو شحالي خو داسي نه ده

دفلک اراده څه ده نه پو هيږم

ښه پيرزو خو داسي نه ده

دژوندون ارشاد خو هغه چاري وکړې

توقوع خو داسي نه ده

ددوستۍ په نوم نړۍ دلته را غلې

نو دوستي خو داسي نه ده

ددوستۍ په نوم شلنډۍ سوه دغه مېنه

دغه خوند د میني نه دی

سرې نکروزي به ښکلاوه دناويانو

اوس محال خو داسي نه دی

چي ئې سره سوله لاسونه په سرو وينو

دغه رنګ داختر نه دی

د خوښۍ پر مجلسو بمونه اوري

ددوستۍ راز خو دا نه دی

دادغم ټغر هوار پر هرچارچوب دی

نو اختر خو دا سي نه دی

د ننګيال بخركي يا د دي اخترونه

دنن اختر هغه سي نه دی

## دیار په غم کي

برائي مي خوب لیدی چي یار ناروغ وي
د د نیا غمونه ټوله زما پر کـــــور وي

زه دیا روسرته ناست یم په چورتوکي
سرترپایه سومه لوندغرق په خولو کي

دیار ماته ضرورت وما احساس کړه
ما و ل ماته یوڅه وایه پرما نازکړه
فرمایش دي کړه بیان هرڅه اعیان کړه
دعیان بیان په کاردی ځان هوښیارکړه

ددوستی په دود چي هر څوک ډیوالی سي
سرمایه دمیني وزي تاواني سي
تاوانی دژوند هغه دی چي دوستۍ کې خوابدي سي
یک تنها به ګرځي دیارانو یارانې بې جدائي سي

خوند د ژوند یوازي نسته دپیسو په ټولولو کې
هلته به زه خوښ یم چی ځای ولرمه زړونوکې
دیارمینه اسانه ده ګټل ئې د زړه ښکار غواړي
هره ګټه چی کوي هغه هم ځان ته توان غواړي
دننګیال بځرکی مینه عقیدت او یواعطأ غواړي
ځکه مینه نه کړمه مینه سخته ده ووفاه غواړي

**ديار ياد**

هر وخت مي ياد کړه چي تا ياد کړم
تا چي يا د کړم خدای دي يا د کړه

مينان ټوله پياد دي چي يې ياد کړي
ته مي ياد کړه ، زه دي يا د کړم

پيژند نه په يادو سره راتلای سي
ته يې يا د کړه چي دي ياد کړي

دښوورځوښه يادونه در پياد کړه
ښه مي يا د کړه بد مي ياد کړه

دا ژوندون ديوباد په څيرتيريږي
هرڅه تيرپه تجريبوکي درپيادکړه

چي په غيږ کي دجانان وم دا مي يا ددي
په فکرونو کې خوند اخلم چي را يا د کړم

نه پو هيږم جانان ولي بيګانه سو؟ ؟
چي يادونه يې د مهررا پيا د کړم

بيګا نه يې نن په ځان کي دي سا تلي
زه بس دومره چي داخپل غمونه يادکړم

زموږياري خو داسي نه وه ته ئې ياد کړه
يو په بل چي نا زيد لو تې د ر يا د کړه

دننګيال بڅركي هغه مينه هم نن را پيادده

راسره ده هغه مينه ښه مي يادده ته ئې يادكړه

**دغلام حبيب پو پل په ياد ويرنه**

زما اميد به ستا پرلوري هميشه وو

ستا ياد مي په يادو كي را سره وو

تيريادونه مي په زړه كي يو توفان دی

ته خوولاړې ژوندی خيال دي را سره دی

مړدي نه بولم په زړه كي را سره يې

افتخارئې چي پرزړو مو نويشته يې

دځوانا نو مد رسې په تا وې ګرمي

ستا د ياد لمبې تيريږي لا ترسرمي

په ميراث دي پريښود ل خپل خويونه

وه دوستانو ته دي پريښود ل فخرونه

په حبيب دي مي قسم وي حبيب ياروو

وه وطن اووه هيواد ته وفا ه داروو

چي تر و سه يې كيد ل هغه يې وكړه

ډير ځوانان يې پرخپل فكر تربيه كړه

د ښووني په بهيركي لو ی استا د وو

په دې لاره كي صا د ق اوپه اخلا ص وو

بس دده آرمان ومونږ ته سو را پاته

چي دده آرمان تر سره کړو سبا ته

دانسان په نوم ترلی غلام حبيب وو

مهربانه پرهرچاه لکه طبيب وو

بس داغه ويرنه زما پر مغزو را غله

سرتر پايه په کښي سوځم لمبه را غله

لا منزل ته خودی نه وورسيد لی

ډيربې وخته مودښنګه ليري سوی

دا بې وخته مرګی نه وای چي را غلی

زما ننګيال تينګ زړه به ولي ژړيد لی

**ځوان خيال**

زوړ يې مـــه بوله ، مه زوړ ورته خطا ب کړی !

ځوان يې فکر،ځوان يې خوی ترهرچاه ځوان دی

دزمانه ښخه مخکي درومي مخکي وړاندي

دادوخت په رازپوهيږي خيال يې ځوان دی

نوې زده کړه يې تر هر چاه ډيره کړي

دځوانانو تل دی يار په خويو ځوان دی

چي دخپل وخت په هنر اوادب پوه وي

دی پرښوره دنوښت پرلور روان دی

دپیرانوملایانو افسانې یې دي ردکړي

نوی فکر ورسره په مغزوځوان دی

هغه ځوان دي تر ده جاراو صد قه سي

چي زوړپاله وي په مغزپه تن ځوان دی

په قانون دطبعت باندي پوهیږي

ځکه هرږغ یې پرعلم استواردی

که ملک او خان یې دواړه مخالف سي

دی دخلکودی ملګری زموږهم یاردی

هرمعقول او نوښګر لومړی تجرید وي

خو سبا بیاغټ کاروان پسي روان دی

زوړیې مه بوله چي فکر یې د ځوان دی

دی په فکرد هرزوړڅخه ښه ځـــوان دی

هر یوځوان چي پرزړونغمورخصیږي

ځوان یې مه بوله په اصل کي ناځوان دی

زه ننګیال بځرکی زوړ خیال رده ومه

چي په نوي قد م ګرځي هغه ځوان دی

**نوی پسرلی نوي غوښتني دي**

سره او ژړ ګلونه شینه چمن کې را څرګند کړه

سرې غوټۍ که خلاصي سپین ګلونه په سمن کړه

یا د مې را تازه که چې مستي مې دبهار سي

ښې نغمې سي سازي هم هوس مې په رنګه کړه

زه خوداحساس اوخپل عقل منصف نه یمه

ډک به کړم جامونه د ذاهد پر فکر نه یمه

تیر ، تیر پسرلي مې نه یادیږي نه بې یاد کړمه

مفت دځوانۍ عمررا څه ولاړی زې خمارکړمه

غواړم چې په نوي پسرلي کي نوی رنګ کړم

نوی مي رباب نوې نغمه د سره چنګ کړم

ښه مجلس دحـوروتماشې د کوثر سرکړم

راسه ای مطربه تا به هم دځان په رنګ کړم

ښې نغمې که ښا دي غم ځپلي زړونه ښا د کړه نن

پریږده نور غمونه دادسولي آواز ساز کړه نن

نه چي تورسیلاب موپرکورونو برا برکړې

کنډ کپر ولس مو بیا پرلاره را ته سم کړې

سره غاټول ګلونه مو په غرونوکې څرګند کړې

نه چي پســـرلیه ! بیا د وینو با ران نم کـــړې

هر کـــال پسرلی چي مي لید لی نوی سوی دی

هرڅه نوي سوي دي خو فکربیا زوړسوی دی

هوډ مي داسي کړی،چي داخپل هیواد به سم کړمه

فکردزاهد اود زړو به سمدلاسه دلته تم کړمه

زه خوننګيالی يم په اورونو کې فولاد سولم

د ښکلو ارمانونه را څه ولاړله کباب سولم

**وجدان قاضي کړی**

وجدان ژوندی دی ، چي مړيې نه کړی

وجدان ژوندی دی چي پړ يې نه کړی

وجدان خو شحال کړه په ښو خويونو

سرلوړي غواړي چي خړ يې نه کړی

هرڅوک آزاد دی ، چي ژوندون وکي

عقل په کار دی ، چي يو څه وکړي

څوک خد مت ګار سي ،څوک محنت کار سي

څوک ظالم کار سي ، څوک رحم کار سي

څوک سي غښتلي ، څوک بيا بيکار سي

څوک د خپل ځان سي ، څوک نړيوال سي

زموږپه عقل چي څه کيږي،هغه ريښتيا سي

که څوک کړي بد سزا بې بده د بد کارسي

په هرکارکي خپل قضا وت سبب دکارسي

چي جوړپه عقل هغه عمل دلاري مل سي

ښه اوبد ټوله موږ ته معلوم دي

د ابد پربد چي تکراريږي تجربه کيږي

وجدان قاضي کړه ، خپله پوهيږې

په توررنګ توريې،په سپن سپنيږې

دازما بڅرکي نصيحت دا دی

بری به ستا وي ريښتنی دادی

**پرښو تلوار**

زور چي مې دعشق سو عقل ولاړی

احساس چي زورور سو هنر ولاړی

پوهه مي پرديسه سوه، داپناه پنهان سوه

فکرمي څپې سوپه موجوکې راڅه ولاړی

احساس دعشق ملګری ، عقل فکررا څه ولاړی

عشق لاره کړه بدله، فکرپه فکروکې را څه ولاړی

بله مو قع نه سته چي به بيا سره يوکيږ و

وخت دسرسوداغواړي،په فکروکې منل کيږو

ښه کول خوهرڅوک وايي ښه کوه ، بد مکوه

ښه اوبد اوس دواړه په خيالو کي را څه ولاړه

شنې څپې سوې مستي دسنګړوټکروسره

فکرمي د خيال هم توفانی سوپه ليد وسره

ارمان مې بل څه نه دی چې د ښکلود نظرنه سم

سره شراب په لاس کي د خپل عشقه بې خبرنه سم

زما پرښوتلواردی چی ئې غواړم په کوچني امید

نه چي وي سبا ته نا معلومه دغښ شي امید

داچی د جنت په تمه ټوله شپه ژړا کوي

داهغه صابردی چي دوی ژوند په واویلا کوي

زه خودازله داسی نه یم چي ریا کوم

دیوجانان د پاره د رود ونه په ریښتیا کوم

څوک که راڅه وپوښتي چي ای ننګیاله څه غواړې؟

پرخپل فکرآزادي، دهیواد مینه اوبل څه نه غواړې؟

**څلو ر یځه**

خلک وای په غمو کې دانا غم وي اسانه

خو انا بیا ترد نیا وي پر لمسیانو مهربانه

داځه عجب متل دی زاړه هم ځانته دنیالري

زوړهم دځوان نسل دبقأ د پاره ځای لري

**ټولو کونډیانو ته ته ډالۍ**

**دشهید کونډه**

دبابا ارواح دې ښاد وي په جنت کې
ګراني موریې ځان پلارکړی په همت کي
دافغا نو ښځو تل دا سي غیرت وي
چي مثال یې بل ځای نه سته په آبد کې
که نه او ښکي د فلک به تویدلای
که یې مورپښتنه نه وای په خصلت کې
پښتنې موري یې ملا وه ور وتړله
دبابا ارواح یې ښاد کی په جنت کې
تار یخ ټوله په حساب لحظې شما ري
دغیرت،همت نومونه دي ملت کې
ګلالۍ وه هغه ګلا لۍ ځواني یې ولاړه
مینه دهیواد وه دهیواد په نوم سوه پاته
داولاد میني ترې جوړه ذ لیخا کړه
دغه مینه افتخا روه دې نګاه کړه
خپل پردي به په دې ویاړکړوچي دایادکړو
چي موسر په دې لوړسوی دا به نازکړو
دبابا ارمان هم ټوله دې پوره کی دامو یادوي

دشهید ږغ سوراپورته په فلک کې دامو یادوي

بس هم دومره افتخار په تا ننګیال کړم

چي مې خوندونوم ساتلی په عزت کې

**هیواد ته!**

زه بهاریا پسرلي ته خوښي نه لرم هیواده

خپلي او ښکي مي سوغات کړلې وتاته

خپلي اوښکي مې دغاړي غاړګۍ سوې

دغه اوښکې مې وغاړي ته را توی سوې

زما پر ګلود خزان با د ونه را غله

پرباغو نود توفا ن یا د ونه راغله

زما د زړه بلبل هم ولاړلی پرد یسي سو

هر کارګه چي اوس کاغ ،کاغ کړي په مستي سو

زما وبڼ ته سوغات دسولي را وړه

زما سپرلي ته بیا دګلو امید را وړه

زما سرې شونډي به هم جارهم سپلنی سي

بیا به ډ ک د نا ز نخرو هغه زړګی سي

لویه خدایه! زما سپرلي ته د ګلونو کاروان را وړه

لویه خدایه !ما ته زیری دخوښیو بیا ، بیا را وړه

زما با غچه کې به همیش نا ز او نخرې وې

موږ نظرسو د نظر سپلنی را وړه

دهیواد خوښي ټول عمر آزادي ده

که آزاد نوي وطن ، بیاغلا مي ده

که مي مینه ستا ارزووي ځان ازاد کړه

چي ازاد سوې بیا نوزما مینه د ځان کړه

تور کا رګان د باغه با سه یرغلګردي

بیا نومینه د پتنګ کړه د باغ موج وي

چي ئې سترګي ستا ناموس ته دي سرې کړي

ستاد میني لایق نه دی دا اقرارکړم دابل څه دي

دغه اوښکي مې پر سپن ځیګررا توی سوې

پرخپل ځان مي سوداوسوه عجب دکانداری سوې

هغه وخت به دهیواد په مینه پوه سې

هغه وخت به ته زما په مینه موږسې

چي آزاد مې کړې دهر ډول چالبا زه

خرڅ مي نه کړې پریوبل پردي بازاره

معشوقه مې داهیواددی چي په غیرکې ارام یم

خود مې سردی ورته ایښی چي ئې نازکړم

افغانان خو دی لرغونی په تاریخ کې

داخپل نوم يې دی ساتلی په مريخ کې

زه ننګيال بځرکی خيال په دغه خيال کړم

چی هيواد ته څه ليکمه په دې وياړ کړم

**دبيعقلۍ کاروان**

سياست چی د نااهلولاس ته ورسي

حکومتونه د قاتلو لاس ته ور سي

سيا ست چي سي بيعقل ليونی سي

عقل ولاړسي تاريکوته بد ګړی سي

منطق هم ورڅخه تښتي ددې کوره

خپل هيوادئې بيګانه اوهم پردی سي

انتقاد منلا ی نه سي په وجدان کې

دهوښياروکارپردی سي تښتنی سي

زوره ور ورته احسا س سي

دجنګونو با زار خلاص سي

نوردجنګ لمبې سی لوړي ترآسمانه

په کښي ورک خپل اوپردی سي

بيکاري او بد بختی وي په هر کورکې

نا ارامه هر سړی سي په خپل لورکې

زده کړه نه کړي دشداد او د لوطا نو

ځان تجرید کی له جهانه د خو با نو

زموږ نړۍ چی نا ارامه ده له جنګه

دا د د ې عصروزمانه ده بد رنګه

دغوبل تیغ پرچلیږي او مړه کیږي

دبموموږپررا لویږي نا بود یږي



**شمعه اوپروانه**

ویلی کیږم اونولیږم ورځ تر بلي د نګر یږم

زماپرواپرخپل ځان نه ده ستا پرحسن به ژړیږم

بورامه رانژدې کیږه زه ستا شمع یم ویلي یږم

ستا به سوځي وزرونه زما دوښکو سیلابونه

ستاپرعشق داورلمبې دي سوځوی دي وزرونه

زما پروا دخپل ځان نه ده را سره دي ارمانونه

ستۍ کیږي زه په عشق کي پرموږجوړدي داستانونه

شمعه ژاړي پروانی ته دادمینی وکیسې ته

پرواني لره به ښائي دادګل نازکی شونډي

هغه پرخه دشبنم هغه ښکلي، ښکلي سترګي

ماته مه رانژدې کیږه زمااوښکي دانګاردي

زه دی سوځم په لمبوکې ددیدن دي انتظاردي

دغه اوښکي چي تو ئیږي دغه ټوله دصنم دي

موږ خودواړه داد عشق په لمبو سوځو

د دې میني دخپل هوډ څه پرشاه نه ځو

بوراخوښه ده ستیٰ سي، شمع ویلي سي نریٰ سي

چي د میني یوه لحظه وي دپیړي څخه داښه وي

ننګیالی ژوندهغه دی چي ژوند کوي په مینه

لنډعمرونه دهغو دي چي د تن وینه ئې ځینه

**انقلاب څه وکړه**

سورشعارسورسو بیرغ سرې دروازی سوې

سمد م ژوند انقلابي سوسم کورونه کنډوالې سوې

دادوینوسورتوفان وو، ورانوله ئې کورونه

خلک دومره نا ارمه خرڅوله ئې باغونه

خلک دومره سوه مجبوره چي دښمن تې پناه یووړه

یو په بل پسي وتله زوړد ښمن ګټه ترې وړله

زوروړظلم روان وودوی مجبورسول بارید له

ولس هم کړه په شاه کړه ده سرحده تیرید له

د د ښمن چي لاس برى سوانقلاب ته ګواښید له

نو ئې واخيستل توپونه پراوړ و ئې را کيټونه

هر څه ئې کړه په نښه که به دښت ؤ يا کورونه

خلک نورهم تاونيان سوه چي ئې وسول درمندونه

ددنياعسکرپرښورسوه راکيټونه پراوړوسوه

په دنيا کي شورماشورسودغه جنګ پرخپل کورسو

يورپ هم ډيروارخطاسوناټو ئې مخته کړله

امريکا اماده با ش سوه عربان ئې را وستله

نورنوجنګ چي نړيوال سونومرکز اسلام اباد سو

دعربو بود يجه سوه افرطيت په کښي اباد سو

جنګ دکفراواسلام سوپا کستان په کښي اباد سو

سوشليزم ئې بد نام کى په اسلام ئې کارتمام سو

نا ټوکله پروارسا باندي ور تلله

داسلام په نوم ئې ټول وغولوله

څوچي ولاړله روسان ددې هيواده

مذهبي افرط داخل سوهري خواته

اوږدې ږيري غټ پکول کږې لونګۍ سوي

تش په نوم تراسلام لاندي غټي بربادۍ سوې

چاه پرمځکه حمله وکړه،چاه پرښځو نکاح وکړه
چاه بیا چورکړله با نکونه چاه لوټ کړله باغونه
دجهاد په نوم چي ننګ وو، پرمیدان هغه د جنګ وو
عسکري نظام خوړنګ سوجهادیانومنځ کي جنګ سو
دادغرب کومک چی بند سودجهادهم لاس هم پرسرسو
دلوټماروپرلوټلوغنیمتوپرویشلونوی جنګ وربرابرسو
تاواني ټوله هیواد سو دچاه ولاړله باغونه او کورونه
چاه بیا چورکړه اوحاصیل ئې کړه کورونه اوملکونه
ځوک شتمن وه ځینی ولاړله چوکی او هم قصرونه
چاه بیا پریښودل پټي ځیني لاړل وې ایستل ځانونه
داثمردانقلاب ووچي ئې وکړله چپه ، چپه غوبلونه
نې دښمن ته ضربه ورکړه نه ئې خپل کړل ولسونه
ما ننګیال نه وه منلي دابې وخته سره انقلا بونه
شرایط ئې نه عیني وه نه ذهني داعجب حرکتونه

مناجا ت

خدایه !دومره بیچاره یم چي رښتیا راته مشکل دي
دخپلوعقید وپه دې دنیا کېهراظهارراته مشکیل دی
وینم ئې په سترګواورم په غوږچې منمه ئې په زوره

رواج ددې دنيا دی دازوړخيال را ته مشکيل دی

زه ځومره بيچاره يم چی دعقل په ميدان کي زولنه يم

سم ويلای نسم دغه کاراودغه ټال را ته مشکيل دی

بيريږم د ملا څه چی په جال کي ئې را ښکيل نه سم

ټاپه ئې ده په لاس کی بيا انکار را ته مشکيل دی

بيريږم د مکاره چی په جال کی ئې را ښکيل نه سم

ولس هم تارياکيدی په خمار کي ئې را ښکيل نه سم

تجارت پرعقيد وکړي دلالان دي تاجران دي د وی

بدخيال دعقيد ودی چي دکفرپه تناب کې را ښکيل نه سم

سالم فکرلرمه‌خو!ر يښتيا ويل راته ګران سوي دي

داسمان تقديربه مات کړم په فتوا کی به راښکيل سم

ملا اوس سياست کړي عقيد ت ورته ډير ګران دی

مست دی په نشو کې ريا ضت ورته ډير ګران دی

زما مناجات دادي پرخپل فکرمي آزاد کړه

هرملا اوهم ذاهد وخپل مسلک ته وفا دارکړه

دننګيال بڅرکي حق دی چي خپل حق دخدايه غواړي

دادحق ګټل ډير ګران دي لوی همت دخدايه غواړي

## خرڅ سوی عقل

ښاردي ورانو ی، مکتب دي ورانوی عقل دی چیری ۀ
پو ل دي ورانوی اومعلم دیهم وژنی ،عقل دي چیری ۀ
لاره دي نیوله مامورین دی هم وژله عقل دي چیری ۀ
راګیټ به دي ویشتی خلک دي وژل عقل دي چیري ۀ
ګوره خداي نا ترسه دا د کفر فتواچاه د رکړه
اوس چي پښیماني کړې دنن عقل دی چیري ۀ
زمادي په خپل کورکي دادعلم ځراغ ووژنی
خپل اولاد دي خپله ولندن ته خپله ولیږی
زموږ دی میخانې هم ټولي ورانې کړې
خپله دي حجرې خپله بد نا مي کړې
پرموږدي خرابات او مناجات دواړه حرام کړله
خپله بیا ر قصیرېذاهدان دی هم خراب کړله
توره دي ترملا کړه ددزنهارطوق دی په غاړه کی
جوړدي قتل عام کی پر هیواد دي خپل ګذار وکی
سم به درته وایم د جهاد په نوم دي خړ پړ کړلو
نه په پو هیدلوچي جهان ته دي موږبل کړلو
اوس هغه شیطان تا په دا خپله ږیره ګرم ګڼي

نن که ئې پښیمانه دغه خپل عقل پرګني

زه ننګیال بڅرکی ستادغلامۍ نتیجه وینمه

غټي،غټي بنګلې دي دکابل پر تړو وینمه

**دزړه بړغ**

نن ساقي مي هم د ښمن سو

په شراب کي زهر پاشي

میخانه کنډاو کفرسوه

هریوخپل ځان را څه باسي

ها!د سرکسان موغواړي یو،یوکس راځخه وژني

قصابي جوړه تالارکې درګو څه وینه باسي

رندان ټول خمار ، خمار دي

ساقي هم ځان را څه باسي

یو، یو وژني په دې زهرو

په پرد ی ساقی چي نازکړي

خرابات موهم مشکوکه پیژندنه هم سوه ګرانه

میخانه کې پردي ناست دي میخانه سوله بیکاره

رندان ټول په خوب بیده دي که بیدار ه سي پرلارسي

نن که زموږ پرکوڅو غم دی غم به بیرته ستا پرخوا سي

د مسجد زاهده ګوره،بیګانه،بیګانه با سو

پرمهراب چي تجارت کړي داپردی دحجرې باسو
هم ئې خم دزهرودېک کړ،سا قي خپله بې پروا سو
ها دښارمستان خوورک سوه،ملاهم راڅه ولاړسو
پردي لوټمارراغلی په پردو که انګړ ساتو
په خپل کورکي به پردي يو،يودبل څه جرړي باسو

## دافغانستان مسلماني

ددې هیوادتاریخ کي بل هيڅ ډول نيستي نسته
دلته ډيرپخوا اسلام راغلی خواوس مسلماني نسته
دلته ډير ملايان ګرځي د ملا موهم نيستي نسته
دوی اخته په سياست دي د د ين ئې پابندی نسته
ټول لمونځ اوروژه کړي دظاهرئې کمزوري نسته!
پراته پرسجده دي خو په خيال کې ايمانداري نسته
لباس ئې اسلامي دی خو عمل ئې اسلامي نه دی
ږیره ئې اوږده ده خو په نیت کی ئې پاکي نسته
حج ته خوهرکال ځي په ايمان کې ئې راستي نسته
ذکات اوخیرات هم کوي په حساب کي ئې کمي نسته
تکيه کلام ئې کلمه ده خوپه زړه کې يزدان پرستي نسته
پنځه شرطه داسلام ئې پوره کړي پر نيت ئې پابندي نسته

ډیر مسلمانان دي په هیواد کې وروړلي نسته
ځان مسلمان بولي خوپرنیت ئې څه پاکي نسته
قانون داسلام ښه دی خو ود ته وسیله سوله
جهاد پراسلام فرض ؤ.دته دا دکانداري سوله
پرنورعالم ښوونه نارواګڼي پرځان ئې بیا روا ګڼي
زموږ بچیان محروم سول خپل ځان اروپا ئیان ګڼي
غضب، فسادغنیمت ګڼي خو پر قتل ئې هم پروا نسته
څه عجب مسلماني ده چي په زړه کې هم بیره دالله نسته
لوڼي اوزامن ئې دجهاد له برکته پیشینان سوله
ګرځي په یورپ کي دبربنډ ځان ماډلان سوله
خوله پراسلا موږي یواوبل ته کمونیست وائي
وګوره ننګیاله چي تر دوی لوی د له ګان نسته

دهیواد ستونزه

هیواد سو پا ته وپردو ته پر دي ګرځي پرکورو
څوک سوله فراره،څوک بیاګرځي پرډاګو
په چالوددښمن وران سوپلوري موپرپردو

دلته غټ شیطان راغلی جنګوي موپرقومو

ورورپه ورورسره جنګیږوجنازې موپراوړو

دژوند امید مونسته هرورځ ناتارجوړدی پرسرو

دجنګونوبد بختیواخیرنسته داسوغات دی دناټو

بدبختي یوه تحفه ده دوئ مووژني په بمو

سپین پوډروملک نیولی اوکړي ئې په تولو

تیارې راباندي ګرځي غورځوي بمونه پرسرو

په بهراو په داخل کې ارام نسته پرکورو

دلته هرڅوک چي اوسیږي په نفوس د کروړو

دلته هرڅوک چي اوسیږي ژوند کوي په کړاو

دهیواد ستونزي موډیري سوې بڅرکې لابه ګورو

**هیواد ته**

هر ځای چي زه اوسیږم ستا په یاد به زه نازیږم

خاطرات دي را سره دي په همدې دي هوسیږم

که دعمرخزانه مي را څه ولاړه خودا ولاړه

د یورپ په تمدن کي ژوندکومه خوزهیریږم

ترها خړو،خړودښتودي هیواده زه جاریږم

چي رايادکړم تيموريان اوانګوريان
ارغندابه په دې غم کي دي کړيږم

اى! هيواده ستا پرمينه باور مند يم
چى کړ يږم زهيريږم او ځور يږم
ستا څه نه جلا کيدمه تلمه،تلمه ليري کيږم
په داټولوکړاونودي خبريمه خبريږم

نه چى ته را څه پردى سې زه دي هيرسم
دهمدغه بد خبراو بد قسمته دي بيريږمه
که نه ما خوتعهد درته سپارلى چي ساتم دي
خوداستا بچي پردي سوله پوهيږم چي پوهيږم

دپردوڅه ګيله هم په کار نه ده په دې انديم
خود خپلو په جفاه بيا ډير، ډيرزه زهيريږم
ننګيالى بځرکى ستا په د رد کي شاعرى کړي
هر مضمون مي ستا په غم کى ليکوا لي کړي

## انسان ته

په نړۍ کی چی انسان دی
قد رمن او پر ماګران دی
توراوسپین ئې مطرح نه دی
خپل عمل ئې دخپل ځان دی
دغه مځکه دحیات ده ښه بې ساتو
هره لویشت ئې په میراث ده امنتو
حق دهیچاه سره نسته دتخریب ئې
پخواني موسترړي سوی په ترمیم ئې
هره برخه ویشل سوې وصاحب ته
هرهیوادئې دی جوړسوی خپل مطلب ته
څوک په غرب اویاپه شرق کی آبادسوی
څوک شمال او یاجنوب کي دیره سوی
آسیا که افریقایا،امریکا یااروپاه ده
یاکه لیری پرته جزیره ده استرلیا ده
دغه وچي ئې ویشلی په نومو دي
انسانا ن باندي ویشلي په مرزو دي

چاه ابادي کړلې مځکې او کورونه
اسوده ئې کړل خپل کلي اوښارونه
مورږ ته حق را سپارل سوی زمورږ هيواددی
مورږ بې ښاد کړو چي ئې نوم افغانستان دی

## سوال

ورښو يو سوال درڅه کوم ځواب ئې سم راکوی
دغه ملت په غم لړلی کنډ کپرولي دی؟
دوی خو تاريخ جوړوی،دوی ستر هيوادهم لري
نن خپل هيواد کي نارامه سرببرولي دي؟
په دې هيواد کي خوقومونه ولسونه ميشت وه
نن افغانان سره پاشلي مها جرء ولی دي؟
ددوی تاريخ خودلوديانواوغوريانوشان وو
نن په ټيټ سره باندي ولاړخوارابترولي دي؟
دوی خپله وائې داحمد او د ميرويس بچيان يو
دپلارنيکه لارئې پرېښې بې لاريان ولي دي؟
ددوی په ملک کې چی زرتشت يا يما پاچاه وو
نن ولی خپل ورورخپله وژنی بيعقلان ولی دي؟
هروخت ئې سيمه دآمو څه ترډهلی خپله ساتله

نن بې وحد ته جنګيالي اوبې وفاه ولی دي؟

که دي زده نه وی دخپل ځانه ځواب نه غواړم

واخله خبردهر افغان پر زړه فرها رولی دی؟

لابه ترڅو پوري خروښيږې پرخپل زړه اوځيګر

دهرافغان پرزړه احساس دانقلاب ولی دی؟

**ځواب**

زه ددې ټولو بد بختيو ځواب سم د رکوم

موږيودبله سره وژنو ځواب سم د رکوم

يوڅو کسه غلامان سوه ځواب سم د رکوم

لغړيان ميلو نران سوه ځواب سم د رکوم

امپرياليزم موپرسرراته ولاړدی ځواب سم درکوم

دغه ضعف دعقيدوچي زما اوستادی ځواب سم درکوم

دهيوادهغه بيسواده ئې راټول کړل دجهادپه نامه

خلک ويني ايماندارئې بې ايمان سو ځواب سم درکوم

دا زموږ مولا ئې زموږ څه رانيولی دی

ځواب ئې سم دی که مولاموپيژند لی دی

ځواب می دادی عقيد ت اورمو پرسردی

په دې اند کي موهيوادراڅه خوارسوی دی

## دنیا فا ني ده

ټول یاران د بڼ څه ولاړه بهارځي را څه په ورو،ورو
پردې باغ مو خزان راغلی رژوي مو ګلان ورو،ورو
دخزان داتند بادونه ،راڅه وړي یاران مو ورو،ورو
ددې باغه یاران ولاړه،خاموشي راغله په ورو،ورو
بانډار نسته دیارانوخوار ځواکی راغله په ورو،ورو
نشه نسته دخوبانوچي ساقي ولاړی په ورو، ورو
میخانه کنډوکفرسوه،مرګ طوفان راغلی په ورو،ورو
دمجلس یاران چی ولاړه،بل زمان راغلی په ورو،ورو
دخندا خلک می نه سته ،اشنایان ولاړه په ورو، ورو
داد ستوردزمانې دی، کښینوی مو په غم ورو، ورو
نن چی آوروفلانکی مړسو،دمرګونوکاروان ورو،ورو
دژوندون کاروان پرمخ ځی، موږخودانګو شاته ورو،ورو
بس یونوم موتل پا تیږي،ښه نوم په زړوکې ورو،ورو
دتقد یردا فیصله ده،وخت پروخت به ځو په ورو،ورو
که نن ته له ما څه ولاړې ، سبا به زه ځمه په ورو،ورو
که مودا قانو ن قبول کی، بد عمل به پریږدوورو،ورو

## ځيځيري وژني

داد سر خلک مووژني يو په بل پسې لا دښمن نه پيژنو
اوس موخپل راته پردي سول په انګرکي دښمن نه پيژنو
دې هيواد ته رانګا رنګ وسلې ئې راوړلې په مفته
يو په بل سره جنګيږوخولا دښمن نه پيژنو

پرکورموغم دی،هره ورځ ساندي نارې به وهو
زړونه کلک سوه،غمونه ډيردي لائې نه پيژنو
ورور،په ورور، سره جنګيږودښمن ښه پيژنو
انګريزه لنګه تورئې بچی سو، دابه لانه پيژنو

دډالرزوردی،باروت خرڅيږي،را نيول کيږي
نااهله وروردی په دې پوهيږي،هم په نازيږي
ستا په خپل کورکي دالحاد توردی،داڅنګه کيږي
تورپنجابی دلته راغلی اوس به څه کيږي

څراغ د حسن دښکلا وژني دغه د ښمن دی پردی
تورتم دشپې ئې دی جوړکړی داد دې وخت لغړی
کلتورورکيږي عقل خرڅيږي ګوره سړی دی پردی
غرونه سوه تش هستي ئې چورکړه،داغل دی پردی

ځينځيري مرګونه هره ورځ کيږي سر فاتحې سوې
ژړاد خوندومځکي په لويشت ، لويشت موهديرې سوې

زموږروح ختلې ،لاره موورکه مکاردښمن به بیا په څه پیژنو
مځکه آسمان مو په وینو سورسو،داغ دغاټولو پردښتونه پیژنو
کله ناریږ کړي چي سوله راغله ، کښینوبه یوبل د تخت دپاسه
اوربند خوواڼي ، بند یزاعلان کړی ، د جنګ میتود ئې نه پیژنو
خبري ډیري خوسرئې یودی، محشرهم دادی څنګه ئې نه پیژنو
دننګیالی شناخت دی دښمن ښکاره دی څوک چی ئې نه پیژني

**موږته له موږه پیښه ده**

تر لمر سپینه ده خبره د خپله لاسه خپله
دپردي ملا دلاسه خپل ملا مونه سوخپله
ملاراغلی دبهره د کورسرته ولاړی خپله
عقید ت ئې کولابي ؤروایت ئې کوه خپله

د مولا ږ یره ببره ترقبضې به راوتله
پراسلام ئې غلبه ده هرڅه کوي په خپله
دوی پرڅوبرخوویشلي هره ډ له ئې ککړه
که داعیش،که قاعده ده شباب ځانته لری ډ له

ټول ټوپک ئې بهرنی دی،انسان وژني په خپله
دپیسوپه زورمزې کړي ، پیسې اخلی له لند نه
د جنت په قبالو ئې مؤمینان تیر سوه له سره
ځان وژونکی تربیه کړي د جنت په چلووله

ځانته جوړښکلی ژوندون کړي دجهاد له برکته
دازموږ لویه خطاده چي دښمن را بولو خپله
تشخیص سم پردښمن نه کړوځان موتیرایستی پخپله
موږ په پوهه یو چي د ښمن زموږ لوی مکاردی
ولي لاره موبدله نه کړه له مکاره او د ښمنه
بیا نوولي مو په خپله دې هیواد ته را بلله
معلومداره زموږ په بطن کي ویروس دی
دې هیواد کي ئې را ټول کړله خړوس دی
ځکه موږ ته پیښه ده له ځانه موږ ته خپله
خپل اولاد ئې هاد کفرپه هیوادکي لوړتحصیل کړي
دسباواکدارهغه دی چي هیواد به بیا یون کړي
زه ننګیال بڅرکی وینم بد نسلونه په میراث تربیه کیږي
غم ځپلی به هیواد وي خوار خستک به ساتل کیږي



**شراب**

شراب هم عجب نعمت دی.هرمجلس کې ئې عزت دی
هم د نیا کې ئې عزت دی هم جنت کې ئې حرمت دی
په جنت کې ئې ویالې دي ،خو پرمځکه ئې سیبنې دي
هریوبا رپه دوی ښایسته دی،هم دغه ئې مهارت دی

ذاهد هم خمارخماردی،دامید په تمه ناست دی
دتوبې څه ئې انکاردی، د سبا په تمه نا ست دی
په چیښوئې کافر کیږي ، په امید ئې مسلمان دی

داشراب عجب نعمت دی، دخوښیو تراوت دی

په کشمیش ئې نه مړیږې ،په جوهرئې نشه کیږې

په خوښیوکې خوښیږې،په غموکې غمجن کیږې

بس احساس دی دراوچت کړي

که هوښیارئې هوښیاریږي

عقل کم که تر احساس وي

لا به نورهم لوده کیږي

بیله شکه خدای پیداکړله انسان ته

چې مست اوسي خوند ترې واخلی

وخت په تیرکړي خو شحال اوسی

دځوانانو دمجلس خروښ مویوسی

لیکن خپله دا انسان ځانته حرام کړه

بیله شکه چې پیداکړه هرڅه تاکړه

په بد نیت دي په افراط سره حرام کړه

تاسرکښه خپل حلال واړه حرام کړه

دادم باباهوس ؤدیوه دانه غنمودخوړلو

ټول جنت سوځیني پاته دښادیواودحورو

ژوند د مالدارانوسالارانوپه غروردی

دخپل کیبره څخه تل وي په جرمونو

انسانان دي چي څه بولي په حلالو
يا په نوم سی دحراموا‌و مردارو
چي پرمځکه څه پيدا دازلجلال کړه
دهغو څه ګټه واخله چي ئې ستا کړه

که خوندونه وي په مينه هم پياله به وي اړينه
که جانان اوهم احساس وی نوبه خوندکوي دامينه
دخيام پياله چپه سوه نو ګيله ئې هم په زړه سوه
پيمانه سوه دخو بانو ښکلې تيره دغه شپه سوه

زما ننګيال دانصيحت دی هرڅه خپل په عقل ګوره
که دزړه مينه دي غواړي اند يښنه مه کوه بيا نوره



## غزل

ماچي اميد ستا د د يدارکړی دی

بې حده ډ ير مې انتظارکړی دی

ما چي دميني په کعبه کې تاته ځای درکړی

تا مي ارام ژوند و ن ته نا ا رام ورکړی

خلک د حوروپه اميد کې جنتونه غواړي

ما دوصا ل وتاريکوته داسي خيال کړی دی

دازمانه راته ظالمه دوفأدبحره ښکلې ښکاري

ماپه دې بحر کې قطره،قطره حساب کړی دی

داهريمنو په ميدان کې صداقت نه وينم

ماپه ساده فکرديارددیدن خيال کړی دی

ثواب دهغه چاه په برخه چي پرهيز وګالي

ما پرهيزمات کی دامي تاته يواقرارکړی دی

دادجهان هوري خوهر ځای منوري ګرځي

زمادی قسم وی که مي بل چاه ته اظهارکړی دی

دادننګيال بخرکي شعردعاشقۍ پر کورو

مادسکروټوپرانګارپل،پل رفتارکړی دی



## دکندهار دانار ګل میلې ته ډالۍ

زه تاریخ ددغه بڼ یم ،زه بهار دانار ګل یم

زه دمیني یو منزل یم، ما د مېني خوند څکلی

که جهان ښکلا،ښکلا ده،زه ښکلا د کندهاریم

ذخیره یم د سرووینو،هم توښه یمه د ه مینو

پرباغومي عاشقان دي،ګرچاپیرمې پتنګان دي

رنګ مې ځکه دسرومیو،چي نشه لرم د میو

دجنت دښو میو یم، ده دانه دانه خوږو یم

که نامتوپرکندهاریم خو هم فخردافغان یم

سورشفق مي انارزنګ دی

دلمرځرک پیغام مي د م دی

دافق دپلوشوځه مي رنګ سورسؤ

داګل ګون بد ن مي ړون سؤ

زه سورګل يمه سوغات عاشقانه يم

ذخيره يم بيا صندوق د لعل دانه يم

کندهارپه مامشهوردی،دښاديوميلمستون دی

زه د مني ښه ميوه يم،هم تر ژمي ښه تازه يم

هرچهارګل مي خوندوردی، ها چوبي انارهم زه يم

افتخاردخپل وطن يم ، هم سوغات دشعر او پند يم

ارغنداب يا پنجوائي اوياميونديم زه مشهوره انارګل يم

خاطرو ته دی درځمه ، ستا ليد و ته دی در ځمه

زه شاعــر يم انا ر ګله شاعرۍ ته دی در ځمه

لاتراوسه می هيرنه ئې ،چي هروخت دي يادومه

زما ننګيال فيصله داده چي په شعرکي دی پالمه

**تاريخي اسنادبه پا ته کيږي**

دجهادپه نامه د ود سول مکتبونه

دجها دپه نامه وسول کاروانونه

دې هيواد ته سور سيلاب راغلی

دې هيواد کي سره سول سړکونه

دنړۍ سلاحوي ټوله دلته راغلې

استعمال سول را کيټونه او بمونه

دابې رحمه د ښمن ناست را ته پرغولي

بې حسابه راته وژنی اولادونه

ماته وائي مرستند وی یمه میلمه یمه

هره ورځ راته راباسي نابلده فرمانونه

دافغان په ننګ اونام دې مي قسم وي

خو! د د ین په تورمو بند کړي تن سرونه

داسلام ګریوان خو څیرسو هم دلته

چی کافرمو را ساتي کور مسجد ونه

ملحدان ئې دعربو څه را ستون کړه

په ګټي دازمونږ په ملک کې جنتونه

داسلام په نوم ئې نوی هیوادجوړ کی

هم ئې ور کړلې سلا حوي ا وبمونه

دطالب په نوم ئې نوی نهال ښخ کی

د ملا په نوم ئې وکرل تخمونه

**زمونږ هیواد**

عجبه یوه خاوره عجبه یو هیواد دی

عجب ئې نظام دی،عجب ئې کاروباردی

انسانان ئې په پیسورانیول کیږي

هرڅه ئې په پیسوباندي خرڅرېږي

وکیل رایه په پیسو اخلي چي ځي وپارلمان ته

یا په زور د توپنګچو اخلي رایه وخپل ځانته

وکیل خرڅیږي،چوکۍ رانیول کیږي کاراسانه

امرونه خرڅیږي رانیول کیږي یمه پریشانه

عجبه یو هیواددی،هرڅه ئې په افراط دي

جنګ دی دپردیوافغانان په کښي مړه کیږي

انصاف اوعدل نسته ګوره څومره تباه کیږي

دلته لوی بهران روان دی داهیوادبه نورورانیږي

دادبدویوګرداب دی چي شعرونه پرجوړیږي

دابڅرکی هم ورته حیران دی چي څه کیږي

## عشقي غزل

سترګي دجانان چي مي په سترګو ما لید لي دی

زړه ئې را څه کش کی سمند رکې غوټه کړی دی

نه پوهیږي څه تیره خنجرئې دبانوپه هاړلړلی دی

دومره درته وایم صفا زړه ئې له ما وړی دی

څه عجبه مینه چي مو مینه هم رسواسوله

کورپه کور خبري رقیبان هم را اګاه سوله

اوس ئې دکوڅې پرلورپه مینه تیریدای نه سم

مینه چي رسوا سول خوږه سول افشاه سوله

ټول علم به بیا زموږدمیني تبسیرې کوي
دادسرسودا ده ما قبوله هم پرڅان کړله
مست به دشرابودزمریو په قطارکی ؤ
داشراب دمیني مي پرڅان باندي روا کړله
کله چي زه اورمه فرهاداوشیرینو قیصې
ماهم څان ورګډ کی بیا په مینه کي ادا سوله
لافي دعشق مه ولی چي مینه سرکښني غواړي
نمي دي قبول چي په نیمه لارکې څغستا سوله
هغه سول نامدارهم د مجنون اود لیلا غوندي
وې خوړل څواني بیا په مینه کښني نامدارسوله
عشق ته که ورانګي بیا پروا دعقل مه کوه
ډیرسوه شهیدان چي په مینه کښنې بریا سوله
زه ننګیال بڅرکی درد د میني خوند ګڼم
څکه خوند دمیني مي ودرد ته یو دوا سوله



## زما موراوپلار

ز ه به دموردخوب اوخیال توښه وګرځم
ز ه به د موردارما نونویوجوګه وګرځم
ماته مي مورد ستر افغان خیالي فکرونه کړي
ز ه به دارمانونوپه دنیا کې نمونه وګرځم
دخپل هیواد دازادۍ خیال به ساتم په ځان کي
ز ه به دمورد ښو خیالونو یوصحنه وګرځم
پلارمي آزادژوندون چي غوښتی وزندان ته ولاړی
ز ه بند یزی به دخپل موردارمانونوازانګه وګرځم
ماته مي مورلا په ځانګو کښي هغه درس را کړی
کوم چي دپلار په پل به پل کړم لابه ښه وګرځم
ز ه دهغې موري بچی یم چي ئې لاردتعلیم پرلوري
ز ه به دپلارپه شان هیواد ته دور دانه وګرځم
دنیکو خلکوارمانونه تل دنیکوارمانونه کرځي
ماهم داغه لاره نیولې چي دعلم پیمانه وه ګرځم
دانصاف طرحه ده اسانه خوعمل ئې ګران دی
بیا به تروسه خپل کوښښ کړم مستانه وه ګرځم
ما ننګیال بخرکي تل دغه لوی هوډ کړی دی
یابه دځپلو مشرانودفکرونو یو ډیوه به ګرځم

څلوریځه

پروامي نسته چي شراب مي نیت خراب کی

که مي د ښمن هم د ځان اود ایمان کی

پروامي نسته که مي ځان ترتا قربان کی

خوږولی د رد مې دهیوادپه کي ارام کی

څلوریځه

نن مي ساقي راته پردی اوبې ایمان سو

په شرابوکښي احتیا ط کړي بې زبان سو

نن پیالې په حساب ویشي ځنډ نی،ځنډ نی کیږي

په محفل کې ګډوډي ده مجلس هم ورڅه بیزارسو

څلوریځه

په خپل کورکي مي دویرداسي ماتم دی

چي دوی یود بله وژني داسې غم دی

نن جوړسوی داجهان پرموږغوبل دی

هستي هم له ما نه اخلي کاربد ل دی

**شا عر ته**

دادعشق او محبت خبری پریږده چی اوس جنګ دی

ځوانان مو لکه بت داسي مړه کیږي وخت دننګ دی

دکافروعقید ې دي مسلمان په ښښه کیږی اوقتلیږي

په خپل کورکی راته ناست دي رنګ بدل دی

شاعران دکور په کونج کی په غمونوکې ویلیږي

نسته هغه باغ اوبڼ چی ورږ مې په کښې چلیږي

توپ اوټانک دی مشیندارپه جذ به کې دي چلیږي

هدیرې په وینوسرې سوې جنازې دی چي تیریږي

شاعران به اوس دګل اودبلبل غزله څه کړي

چي پر فکر ئې د وینو سیلا بونه را بهیږي

دبخمل پرشنو، شنو تړودمنحوث جهاد اوازدی

دکافرو جلسې دي پر، پردو ملکو جوړیږي

بدبختي دانسانو را ارسال سول زموږ پرلوري

دغداردحسرت کورسوډالرونه پراوریږي

دشاعرزړګی چی تنګ سي وشعرونو ته ئې مخ سي

داحساس اورونه بل سي مځکه ټول ورته سره کیږي

ننګیالي ځوانان موولاړه میندي ژاړي په خپل کورکي

په دې کورکې دبڅرکي ارمانونه ګوره نه ترسره کیږي

**داروپاه ځانګړني**

خړاوسیلابي آسمان په ځنګ کي بادباران لري

دوبی ئې درک نه سته خوژمی ئې دوام لري

ښکلی اوښایستې نجونی هر خواته ځلا لري

مینه ئې درک نه سته خو هر چاته خندالري

***

زړونه ئې ترینګلي دي خوپه خوله ادا،ادا لري

ښکلي خپل مطلب ګوري ظاهره کي وفاه لري

داد خود خواهئ مینه هیڅ کله بقأ نه لري

په مینه مینه ناکي دي خوزړه کي وفا نه لري

داداروپا وچه په خپل ځان کي که ښکلې ده

ښکلي ابادئ لري خو هوائې بیا ترینګلې ده

دلته نراوښځه خپل په ځان کي آزادی لري

ترخپلوګټوپوری هم دلاري ملګري لري

هرخواته سفرکوي په هرکال کي رخصتي لري

میره ئې پریوه ځي ښځې ځانته آزادي لري

دلته دهواتوپیردوی خپله معلوم کړی دی

دائې هم د ښځوپرعد ت پرتله کړی دی

مینه او قانوئې دهوا په شان تغیر کوي

فکرئې آزاددی دوی په ټولودا منلی دی

زما ننګیال فکریوبل دی هغه دلته نه چلیږي

مغذ چي د خړودیوالووي هغه دلته نه قبلیږي

## دڅه تیرېږي؟

چي ملا آذان وکی دساقي دلاس جام ولویدی
مسجد کنډاوکفرسوپرمهراب بم ولویدی
جنګ مسجد اومیخانه دواړه نا آرامه کړه
بتان ئې مات کړه عقید ت هم وسوځیدی
دجنګ خطـرآتشکدې اواورونه هم خامـوشه کړه
ظلم راغلی عقیدې ولاړې قلم هم پـرمځکه ولویدی
هیوادتباه سواقتصادوران سوتجارت په ټپه ودریدی
هرڅه پردي سوه،تقلبي سوه عقید ت پرګټه ودریدی
جنګ هم دبل دی غم ئې زما خپل دی
سیاست رنګ دی مذهب بل رنګ دی
ملأ چي داکړي او بیا هم ها کړي
دادجنت خوبونه مرګ په سوداکړي
دښمن موبل دی جنګ موبیاخپل دی
ساقي پردی سو ذاهد پردی سو
کفراسلام سودا څه بد حال سو
قاتل په قتل ځان مسلمان کړو

تخم کرلی خپله کفاروحاصیل ئې ټول کی خپله کفارو

ماشین ئې جوړکی د ملايانونوم ئې بيا ورکی دطالبانو

عجب هنردی دانګريزانوعقل ئې واخيست له افغانانو

جنت ډالردی دوږخ ئې خپل دی دغه کاردی ددوږخيانو

باردشرابوساقي هم دی سو،مهراب ئې خپل کی ملاهم دی سو

اوس ورته ګوره څه ګډوډی سوه،مشرمودی سو،دابربادي سوه

ملآته پرېږده زاړه خویونه اوس پیداکیږی ښه کتابونه

نوی ملا دی په عملونو،ملأګرځي پرسيا ستونو

مسجد سو پاته عشق ددولت سوپرمنصبونو

ملا ته وایم کښينه مسجد کي وخت دلمونځونو

هريو ښه ايسي په خپل کارونو

مسلکي اوسه دښوواضعونو

**تاسي ئې خپله وپيژنی**

خپله کافر ماته اسلام لټوي

خپله غلام ځان بيا باداررابښوي

هغه جوړسوی دی دبل پرمځکو

تاريخ ئې نسته تاريخ دان لټوي

قتلو،قتال ئې دی پرکوراوکلي

زما پرکورباندي اشرارلټوي

کفاروجوړکی داسلام پرخاوره

اوس داسلام په نوم بدنام لټوی

پښتون بلوڅ ئې یرغمل نیولي

نه ئې پښتون نه ئې بلوڅ خپلوي

دسیند پنجاب خلک شاکي دی ورڅه

ګوره چی ځان بیا مسلمان جوړوي

ګورو چی داخو اوس یو قوم نه دی

دوی بیا په ځان کي بلوڅان ګڼوی

دابې ایمانه دانګریزو په زور

دوی افریقاکې اوس اسلام لټوي

دلته لښکري انګریزانو جوړ کړه

پربریتولاس بیا پنجابیان تیروي

نه ئې پښتون نه ئې بلوڅ خپلوي

دوی دغوري په نوم بمان جوړوي

افغانه پوه سه او هوښیاره اوسه

چي دادښمن تاته څاه ګان جوړوي

**دوخت توفان**

داسمان په کنګروکې لمرترینګلی غوندي ښکاري

لکه څه چي راته وائي ماته هم دغسي ښکاري

ميندي ژاړي، خپل پردي په ويرلړلي
د فلک انصاف ته ګوره چي راغلي دي ناولي
داورونو سلسلې دي چي اغيا رنه معلو ميږي
يا به پته تباهي وي چي کاروان نه معلوميږي
دغم اوښکي دي توئيږي دادرياب نه معلوميږي
توفاني اسمان ته ګوره دغم او ښکی دي توئيږي
دافغان دکورلمبې دي نن جهان ځا ن په تود کړی
بې حسابه ږغ نارې دي چي غوږونه په کڼيږي
بس هم دغه موژوندون دی ټول جهان په دې پوهيږي
د نااهلوپا چهي ده افغانان په دې پوهيږي
توفا نونه سره يوسوه غت بحرونه دي جوړيږي
دافغان د ژوند حالات دي په توفان دنوح بدليږي
دلته مرګ هم بې حسابه سر پرسراورونه بل دي
اوس مو مځکه تبخی ده شيطان هم دلته سوځيږي
لمرپه سره انګاررا خيژي دشيطان ککرۍ سوځي
دغروب په ننداره کې داحساس ککرۍ سوځي
دشهيد دمورآوازدی چي جهان په شپيلۍ سوځي
دننګيال اح او فريانددی شاعران په دې پوهيږي

**سور پسرلی**

پسرلی راغلی موږته به را وړي د مرسل ګلونه
د نوي کال دامید نواوسنبل ګلونه
بیا به تازه کي مړاوي سوي هغه ژړګلونه
بیا به عاشق ومعشوقې ته وړي دسر ګلونه
پسرلی راغلی بیا به دښتي کي بخمل په ګلو
بیا به روښانه کي باغونه اوپنډل ګلونه
دغره لمني به غاټول کي په سره رنګ د میني
هم به په منځ کي دغاټولوسي سپین اوژړګلونه
ګوندي خندان سي ټول ترینګلی زوړنه
هیربه پر هیرسي دځپلواودغم رنګونه
نوی درود نوې دوعا کوم په نوي کال کې
چي نوي وسپېړي د ز ړو نو د ملحم ګلونه
د پنجوائي دزنګاوات سوي نارې آهونه
بیا دي وانه ورم دشهید اودزخمي ږغونه
دادغیرت اودهمت په وینو سره جامونه
هر هیوادنوش کړه دانسان اودبشرنومونه
چي موږته ئې راکړه دغه بد القاعده نومونه
دا په عربو کې جوړسوي د وحشت خویونه
آسماني ستوري تماشې کوي دا زموږ پرانګړ
دپنجوایی په شاني سره سوه هغه شنه با غونه
سپرلیه! راوړه د خوښیو پیغام ستاله مؤخه
ستا د نسیم په پلوشوکي ها! تازه ګلونه
نن دسکروټواوباروتوپه اورټوله سوځو
دادبهرڅخه راغلي ډ کوي خپل دبغل جیبونه
نن استقبال ته دي درتلای نه سم په بند ولاسو
بیا چي آزاد سوم جوړوم به پر باغو سا زونه
زما ننګیال بڅرکي سوال دی دهمدغه شیبو
کله به جوړکړم دیارانو یارنې پربانډو

## دهلمند پسرلی

په هغه باغ کي بلبل چي به ناريې کړي
اوس هم هلته چوپ چوپتيا ده پسرلی
کوچيدلي دي مرغان او با غبان دواړه
اوس هم هلته غم ماتم دی غوړيدلی پسرليه
دهغوی چي کند وګان د راشن ډ ک سوه
نن ئې وينوچي دخپله ګليستانه اوره سوه
سره اورونه سرې سکروټي يې پرکور سوې
د حياء پوړنې څيري پرهرلوري بې پردې سوې
هر را کيټ د تمد ن په نوم فيريږي
هريوکورچي دبشر په نوم ورا نيږي
اوس آزاد کورونه ولاړل مسافرسول
اوس پر مېنه دپرد و محتاج دبل سول
پرسروګلوشينو باغو کنډوالې جوړي
پر مرجه او نا داعلي اورونه اوري
هغه مست قومونه ولويد ل له زوره
دنړئ توان اوطاقت هم سو بې زوره
پسرليه!زموږ هيوادته دي څه را وړه؟
چي بلبل اوباغبان دواړه د رڅه ولاړه

پرسربند د کجکي تازه ګي نسته

دوحشت نغمه خپره ده خوښي نسته

دهلمند دریاب بهیږی غلی ،غلی

مړاوی،مړاوی رابهیږي ځړیدلی

نې مستی نې تراوت سته په خپل ځان کي

ځورید لی ، ځورید لی دی په شان کي

بیرته غواړي هغه خرجګ دیوالونه

بیرته غواړي هغه شنه ، شنه چمنونه

دبلبل نارې به اورو پرباغونو

دآبو آوازبه اورو پر کورونو

نه چي واک موسي دبل پر تعمیرونو

یا موښکیل کي د پردیو پر دودونو

پسرلیه! دهلمند نغمه بیا سره که

ترانه دي دآزاد هیواد خپره کړه





**په اروپاه کي نوی کال**

۲۰۱۳م

یو هیبت د خوشحالۍ او د خندا دی
تبریکی یوبل ته واي عادت دادی
هري خواته ګلان پاشي ،دخوښیویوماښام دی
دباروتو لوب بازي ده ،په ږغونوکې خنداده
میخانوکې درندانو ، د ځوانانو پرې ګڼا ده
خوند پرې اخلي د خوښیو یو فضآ ده
هري خواته جمع او جوش دی
هریو خوښ که ځوان یا زوړدی
هریوګورم چي خپل په مینه موړدی
غر بینې دي چي درزیږي په آسمان کې
دباروتو په باغ مست دي په جهان کې
دوی په دغه دود کي هست دي په خپل شان کې
دباروتو په لوګي کي آوازونودي دسولي
رنګارنګ ګلان ترې باسي څراغونه بازاروکي
لوی واړه خوشحاله زړونه په نڅاه په میخانو کي
هریوخپل په ځان کي هست دي ، هریومست په ترانوکي
دا دنوي کال مستي ده ، دهر کال په دغه شپوکي

لورپه لوريې خوشحالي ده ، دکلوپه تيريدو کي

**سيکولوريزم**

عقيد ت دهر چاه خپل دی

ځوک مسجد ځوک کليسا ته

ځوک ئې ځانته دجنت په خاطر

ځوک جهان ته دعزت په خاطر

ځوک امريکا کي زيږيدلی کليسا به پالي

ځوک هندوستان کي زيږيدلی بګوان به پالي

چاه يهود ت ته مخه وکړه دتاريخ له مخي

ځوک مسلمان سودمحيط اوعقيدت له مخي

ځوک ماترياليست سودعلومودتحقيق له مخي

ځوک بيا ددين او سيا ست سره هيڅ کارنه لري

ځوک معتقيد سوپه مذهب د شريعت له مخي

دچاه بيا خوښه چي څه کاندي ده عد ت له مخي

ځوک بيا پرهغه وي روان چي ښه بازارولري

هر يوآزاددی چي په نوروباندی کا رنه لري

قانون هم تنګ دی ظلم بندي سي دقانون په پنجو

هريو آزاد دی تر هغو چي خپل چوکاټ ولري

**قاتل څوک دی**

هیڅ پوښتنه ګرویږنه ځیني مه کړی
مه ئې لاس کوری د چاه په وینوسوردی
پخواني ژوند ئې هر چاه ته هم معلوم دی
په پروند کې چې مسکین واوس قارون دی
کورنی ئې وه پرکومه خوارواﻧﻪ ﺧﭗ کرداړؤ
لغړیان وه لوچګان وه سګوانان وه دائې کاړؤ
دوی پخواچې څه کوله معلوم مداروهم برهان وه
د پخواځخه طالب وکه مولاؤیا لوټماړؤیا بیکاروه
نود څشي کسبکاړؤچي هست مند سو
په توپک اوپه جهاد کې میلونرسو
که دغرب په ډالرو باندي اتل سو
یادملک په چوریدوباندي شتمن سو
نوددات اود ریښي پوښتنې وکړی
چي د کوم نسل افغان تحقیق وکړی
دعرب څخه راغلی فکروکړی
که تا نه وي رابللی باورمه کړی
تعویذ ګراومداریان د لته رږد چاه کړه
داجدادوواکداران د وی پرموږ چاه کړه

که د بل ملکه راغلی خا نا ن چاه کړه
دجنګونو سردارا ن د لته د وی چاه کړه
چاه کړه مشران اوراهبران چاه وه سا تلي
دوی چاه وه راوستلي لوی دښمن دلته ساتلي
داخونن نه دی معلوم داپروندلاافغانانوپیژندلي
دلته لږوخت کی اغا سو یا په پیرچاه پیژندلي
سیاسي واک ئې دخلکو پرذهنوباندي حاکم کي
د جها د فتوائې ورکړه تمد ن ئې ژرمحکوم کی
قاتلان دي راټول سوي د پردی ملکه راغلي
سپین کالي غټ کورونه ښه نومونه ئې خپل کړي
که ئې لاس په وینو سور نه دی نو څه دی
په عمل کې د شیطان غوندې تور زړه دی
دی به پټ وي ترهغوچي دادعلم څراغ مړوي
همیشه مودژونداوپرمختګ په مخ کي خنډ وي
قا تلا ن د افغانانوداشیخان دي
چي په خوی کي انګریزان دي
ما ننګیال بڅرکی دوی ښه پیژند لي
راته ناست دي د ښمنان دي قاتلان دي

**دخره او شرمښ نقل**

توبه دخره دزوره ، هر څه کوي په زوره
نه ئې عقل نه ئې فکر،زيږيدلی دی د موره
پلارئې هم دغسي خروو،په ميراث دخره د کوره
دی په اصل مټه خروو،باک ئې نسته دخپل کوره
په خبرونه پوهيږي،باربه وړي ترخپله کوره
پرځنګله وربرابرسي چي دی وزی خپل دکوره
دليوه پخه غذاده،عقل نسته بيله زوره
پرليوه که برابرسوبيرته نه سي تلای ترکوره
دليوه سره چي بحث کړي پرخبرو تخت وتا زکړي
خردهغه حيوان ښکارسي،چي په عقل سرفيرازسي
خر، ليوه سوه په خبروپه خبرو په اترو
ليوه ځان جوړکړونس ته دپستوغوښو قفس ته
خره لغته کړله پورته ليوه وکتل وزورته
يود بله ئې ليد له هر يوه وارته کتله
يودبل په خوی پوهيږي خودوی نه سره جوړيږي
ليوه ډيرترخره هوښياردی،خرپه زورکي پلوان دی
خرکه خريم خوترتاسوعقل مند يم، زورورريم
که نه را سه امتحان ته ، دادعقل وميدان ته
ليوه خره ته لږ مسکی سو،خو وسوال ته بيړنی سو
ويله! سوال ته اماده يم ، ستا دسوال څه خبر نه يم
ليوه وايه آسمان څه دی؟؟ په څو رنګه آراسته دی
ليوه ږغ کړه آسمان شين دی، دابوپه شان رنګين دی
خره پر وخندل بيعقله،ته خو خلاص ئې دخپل عقله
آسمان سوردی زورورره،بس فقط ئې چمبازګره
داليوه ئې ډير حيران کی ، وشاهد ته ئې روان کی
قناعت ددوی ونه سو، دپاچاه پر خوا ئې زړه سو

دواړه ولاړه وپا چاه ته، دځنګله ولوړمقام ته
دځنګله پا چاه زمری وو، هم غښتلی ګړندی وو
دواړه ولاړه وزمري ته،دځنګله ودې نامی ته
وزمری تې نقل وکی،هغه خپل قضا وت وکی
سمدستي ئې امر وکی ، پر لیوه ئې قهر وکی
خپل عسکرئې را حاضرکړاولیوه ئې هم اسیرکړ
لیوه شین دژړا ولاړی ، وه زندان ته ئې روان کی
دزمري پر خوا ئې خوله کړه، پاچاه زما دلیل ته غوږ کړه
دا ستا څنګه قضاوت دی، دا دي څنګه عدالت دی
شین آسمان اورنګ ئې شین دی،دځنګله پاچابدبین دی
زمری وویل بیعقله!ته ترخره لاهم کم عقله
تاته رزق درکی فلک،تا خطاء کی دخپل علقه

**دکرونا پسرلی اونوی کال**

بږغ سو دبلبلو خوشحالي ده دادکال نوې ادا ده
طبعت غوټۍ سپرلي د نسیم نغمه وږمه سوه
وا ئي دلته لو بلا ده کرونا ده ، کرونا ده
یو هیبت پر هیوادونونازل سوی دی راغلی
دې بشر د لته را وړې لوبلاده،کرونا ده
که نن زما سبا بیا ستا ده کرونا ده،کرونا ده
طبعت را باندی خاندی سرکښي کړي پروختونو
یوکال تر بل بد تر دی درنګونو هیبتونو
تشه سوې هم دخلکو کربلا ده کرونا ده،کروناده
دجنګونو سلسله ده چي را وړې ئې ا ؤبا ده
دمذهب هم دغه حال دی،پرکعبه چپه چوپتیا ده
نه پو هیږم داد کوم هیواد خطاده کروناده،کروناده
طبعت راباندي خاندي وای افت خو زما نه دی
دا جوړ کړی انسانانو دانسان دلا س متاع ده
دادمست انسان ګناه ده ،کرونا ده ،کرونا ده

تباه کړې ئې دنیاده غم وهلې دا بلا ده
نن پرما سبا پرتا ده کرونا ده ، کرونا ده
د ننګیال بڅرکي هیڅ ګیله د بهار نسته
چي را پیښه موږ ته خپله دا اوبا ده
وانسان ته دانسان دغه سزا ده
کرونا ده، کرونا ده ، کرونا ده

**ټولنیز شیطان**

شیطانت لري ډولونه په کښي نغښتي پټ رازونه
درته جوړبه کي باغونه، هم به جوړکي بد چمونه
وظیفې ئې بیلا بیلې جوړبه کي لوی فسا د ونه
ځینی دوه په شراخته کي ځیني جوړکي غټ شرونه
لوی شیطان بیاټولنیز دی په شراچوی قومونه
دلته کورد شیطانانو جنګوي لوی،لوی قومونه
دشیطان ځاله هم دلته چي ورڅخه دي موږونه
زړه ئې غواړي څوک کافرڅوک مسلمان کړي
چاه ته ورکی دخپل ځانه دغرض ډ ک لقبونه
یوافغان سره تقسیم کړي بیلوي ولایتونه
څوک شمال ته یاجنوب ته بیلوي افغانان ورونه
په رګوکې دپښتون هم داخل سوی دا شیطان دی
وارارتاوکي تضادونه سره بیل ئې کي نومونه

په هنرلوی کند ها رچي د لغما ن څه بيلو ينه
همداسي پکتياوال چی دمشرق څه ليري کړينه
تفرقه کاردشيطان ده چي په مور کی ځای لرينه
کنه داهيواد خويودی داموڅه تراټکه لارلرينه

سپين کالی سپين ئې لباس دی په زړه توردي
نوکرتل د ی ده پيسودی دحق پروا کله لر ينه
دحرام په نوم چليږي تمد ن د منځه وړينه
دوی په اصل افغانادي په دستورد بل هيواد دي

په علت ئې نه پوهيږم چی دوی ولی داسي کيږي
دازمور لوبدبختي ده پردي پرکورمو اغا کيږي
نه ئې پلارنه ئې نيکه نې نصب راته معلوم دی
هسي خيال موعقيد ت دی پر هيوادمو داحالت دی

ورانوي د کلتورزنې کښت دده په لاس به کيږي
داشيطان په مور کې ږ يرژرلاره وکړه ابادېږي
ځکه د لته ئې دفکرپلوشې ژر، ژر خپريږي
په شعيه او په سونی کښي دغه مکربشه چليږي

شيطانان دي په فرمان ئې مذهبونه هم رنګ اخلي
ټولنيز شيطان هغه دی چی باورد خلکواخلي

دخيالي فلسفې زوردی عقيد ت د خلکو اخلي
زه ننګيال بڅرکی وينم چي لياقت دخلکواخلي

**سپين ته توراوتورته سپن ويلای نه سم**

د د نيا په دې قا نون کی ښه او بد سره بيليږي
ښه او بد بيا دواړه نه سره راځي اونه قبيليږي
څوک به ښه وي څوک به بد وي بيا جوړيږي
که هرڅورا باندي زوروي بدته ښه ويلای نه سم

سپين ته توراوتورته سپين لا هم ويلای نه سم
دادچم اوفريب دنياده توراوسپن سره ګډ وډ دي
وي خائين اودرواغجن په الفاظوکی بيا بل وي
خائين اودرواغجن هيوادته وفادارويلای نه سم

لکه څنګه چی سپن ته توراو تور ته سپن ويلای نه سم
همداغسي هر جاسوس ته زه افغان ويلای نه سم
چي خد مت دجاسوسۍ کړي زې دځان بللای نه سم
داهم هسي دلالان دي زئې مشران بللای نه سم

داسي به مډ رن وي ته به وائي جنټل مين دی
عقل ئې سپيره دی بس ساده دغرو سړی دی
پيشن په نيکټا ئې کړي پر خبرو ګړندی دی
زړه ئې تورترتورولوشوپه مخ کی افغانی دی

زما خو لویه ګناه داده ګناه کارمي پیژندلی دی
دغه لو ګناه ده چی خائین می رسوا کړی دی
زه چی ورته ګورمه هر قا تل دلته ښاغلی دی
داد ګاه د کربلاده هرایزید مو واکمن سوی دی
پرهرافغان ماتم دی چي پردی مومشرکړی دی
جنګ دافغانانو لوی د ښمن مو قاضي کړی دی
ټوله سرګردانه خپل قانون راڅه ورک سوی دی
دجنګوپه اورکي سوځم افغانی غیرت مي ستړی دی
تنها دغه یوهیواد دی چی نړۍ ورسره جنګ کوي
جنګ هم فزیکی دی دهرکورسره بد رنګ کوي
زه ننګیال بخرکی دا سازش کولای نه سم
تورته سپین او سپین ته تورویلای نه سم

**دژوند تحفه مینه ده مثنوي شعر**

ټوله طبعت ته په مثبت نظرکتل کوه
داښکلا به ستا یووهرڅه ته به نظرکوه
شنه او زرغونه چمنان ښکلي دي
ګوره چي داښکلي غرونه ښکلی دي
پیغلي چی ګد رته ځي رنګینی دي
ښکلي په بازار کی نا زنیني دي

هر ګل په باغچه کی جلارنګ لري
سره شراب پیاله کی جلا خوند لري

ږغونه دځنګلونو او دغرونو یو هیجان بخښي
مست دی طبعت چې هم دغسې احساس بخښي

دغرونو سلسلې دي پورته سپینی لاندي شنې دي
شنه شنه ئې باغونه ټوله درختي ئې زړه وړینی دي

ښکلی دا جهان دی کې په ښکلی نظر وګورې
ښکلی ئې مرغان دی کې شریک پرنړۍ وګڼې

مجلس د ښوخوبانوبیا پر ښکلو باغو خوند لري
آزاده دنیا ګۍ ده په فکرونو کی بل رنګ لري

سره شراب د سرو شونډ وطبعت را روا کړی دي
سره شراب د میودسروشونډود پیالوسره راغلي دي

مینه د ژوند جزده د ژوند و سره را غلې ده
دغه الاهي تحفه دپورته دآسمان څخه راغلې ده

مینه د بلبل ده چې د ګل سره راغلې ده
مینه د بوراده چی پرشمعه ستي سوې ده

مینه دانسان ده چې داستان پر لیکل سوی دی
مینه د لیلا ده چې مجنون پرمین سوی دی

مینه دخیام ده چې هر شعر ئې مینه مینه ده

مينه دغني ده چي هرد م ئې يا ده کړې ده

مينه دننګيال بڅرکی ګوره چی مثبته ده

ورکه دی منفي سي چي ړ که دنفرته ده

## څه عجب وختونه

د نعمت قد رپه زوال کي وي څه عجبه ښه فکرونه وه

امن وامنيت ؤهرخواته سيلونه وه څه عجب وختونه وه

څه عجب فکرونه وه

چي جوړی مدرسې سوې نوپرکورموهم لمبې سوې

ټول مسلمانان وه کافرراپه کښي نه ؤداسي حلتونه وه

څه عجب وختونه وه

ملا يان چی تر حد ډيرسوه نورقم،رقم کارونه سوه

سياست اومذهب ګډ سوملاته دحکومت نوی خيالونه سوه

څه عجب وختونه سوه

توپک چې کړی ترلاسه نظامي هم فکرونه سوه

د ين سوځيني پاته ډک ئې په ډالروخپل جيبونه کړه

څه عجب وختونه سوه

دکاراو کارګر په نوم هم غټ،غټ شعارونه سوه

نه کارنه کارګرسوپه نامه غټ،غټ ګوندونه سوه

څه عجب وختونه سوه

ولس حق،پک حیران سو چی چپه، چپه کارونه سوه

کور،کالي ، ډوډۍ سوه خوند ورئې شعارونه سوه

څه عجب وختونه سوه

نه کورسونه کالی فقط ډ ک ټول زندانونه سوه

ولاړې خوشحالۍ پرځای دما تم داسي غمونه سوه

څه عجب وختونه سوه

د ښمن را ته په څنګ کي دخپل دوست په ټولولوسوه

مفت راکيټ ئې ورکی دهیواد په ورانولوچوررولو سوه

څه عجب وختونه سوه

چپ اوراست خودواړو په یوه وخت کی ورانی وکی

یوخواته خلکیان سوه بل طرف ته ئې ګوندونه سوه

څه عجب وختونه سوه

جمع جوش هرخواته به میلې کیدې ترسهاره به ټیکې کیدې

مست وکندهارمسته سینما مست ئې هم هندي فلمونه وه

څه عجب وختونه سوه

څه سو دکابل غورځنګ مست دکندهار نهضت

دښځودغورځنګ اود نرو دتعلیم عجب فکرونه وه

او څه عجب وختونه وه

غټي ، غټي لاری به دهر افغان پرمخ آزادي وې

هره لويه لاره به په ډانمبر سړک بنه پاکه سوه

دسهاره تر ماښامه پردې لاري سفرونه وه

څه عجب وختونه سوه

ډيرځوانان موولاړه تريورپه دتحصيل په نيت

بيرته چي به راغله استاذان به ددې ميني سوه

څه عجب وختونه سوه

زه ننګيال بځرکی هم ددغه ټولو پيښو جاج ساتم

اوس ډک دښواوبدو دغه غټ، غټ تاريخونه سوه

څه عجب وختونه سوه

**ژړه پاڼه**

د خزان دا وج بادونه په سيلی ، سيلۍ چليږي

اول شنه وی چي ژړيږي بيا وچيږي نورالويږي

دزمان هم پروا نسته عمرداسي دی تيريږي

وچ بادونه پربهارباندی حاکم سوه پاڼي لويږي

هيڅ پروادهيچا نه سته ژوند ون باد غوندي چليږي

په ژړمخ کي سولې پا نې دژوند ون پاڼي رژيږي

ګلا ن هم ورژيد له په ارمان ژوند ون تيريږي نه تميږي

دګلانوپه باغچوکې مست بلبل دبهارغزلي وائي اوچغيږي

چي خزان وربا‌ندي راغلی مست بلبل به مړاوی کيږي
بوراهم خپل ژوند ون تيرکی لکه شمعه چی ويليږي
ژړه پاڼه په ارمان ده کت پرکت څرخي دارالويږي
ټول ژوندون په حرکت دی د زاړه څه ترنوی کيږي
دزاړه دژوند آرمان دی چي به نوی بيا رازيږي
نوی هغه ادامه ده چي حتمي به دزاړه پرځای تميږي
دننګيال بڅرکی دژوند پاڼه ورځ تربلي ده ژړه کيږي
بس ديوآرمان ئې پاته چي هيوادئې ئې نه جوړيږي

**بيګانه ساقي نه چليږي**

ميخانه کي ساقی نسته ميخانه لاهم چليږي
پردی ساقی راغلی خپل پردي پررا ټوليږي
رندان ټوله نشه سوي په نشه کې زهرورکړه
دپرديو دلاس جام دی تارياکي زهرپرلويږي
ميخانه بې سرپرسته هرخما رد لته کړيږي
دانشه دمزې نه ده چی دبل په لاس جوړيږي
دساقی په لاس کي جام دی بس ودته به رسيږي
نورنوټول خمار،خماردي دده تنده به ماتيږي
ميخانه د ساقي نه ده نه ئې زړه په دې سړيږي
رندان ټوله دي مايوسه پرخپل کوربه ترټل کيږي

دپرد يو چې نوکروي هم هغه به ستايل کيږي
جام بې ډک وي دشرابو وږې تنده بې مړيږي
موږحيران يو ودې رنګ ته حالتونه دي تيريږي
چې ساقي را ته پردی سو ميخانه هم پردۍ کيږي
ذاهدهم زما په شان دی مهرابونه سودا کيږي
مقتد يان قطار، قطاردي د ملاذان ناوخته رارسيږي
دپرديوپه باورکې ميخانه اومسجددواړه بيګانه سوه
هم مسجد هم ميخانه کې د پردوږغ دی چليږي
خاوندان ددغه دواړو په دادونشو اخته دي
يوپه فکردعقبأ سوه بل عشرت کي نه مړيږي
زموږ دعقل په حجروکي ميخانه او مسجد دواړه
يود بل سره تړلي دځينځر په کړۍ واړه
که مسجد را ځه پردی سي او ملا موهم پردی سي
هم ساقی اوهم ذاهد به لا خواريږي، لا خوا ريږي
سجدې به هم پردۍ وي دانشې به هم پردۍ وي
ټول نشې به وي بې خونده عبادت هم نه قبليږي
دننګيال بځرکي خيال دی پردی هر کله پردی دی
په سازش او په زاريوپردی هيڅ وخت نه دوستيږي

## وفاداري(عشق دی)

په وفاه کي درقيب مي بې وفا ياربا وفاه سو
په جفاه کي دوفاه مي پخوانی يارهم پخلا سو
هيڅ ګيله دهيچاه نه کړم چي نګارمي راپيداسو
پخوانی ياررا پخلاسو محبت مو خوا په خواسو
وفادارلره وفاه سوه جفا کا رموپه جفاء سو
دغه دواړه رنګه ګوره ګل دخارسره پيداسو
که دعشق په طريقه کي جفاه نه وای پيداسوي
سربند نه دعاشق به پرمعشوق کله پيدا وای
داد نيا هم پرتضادباندي جوړيږي هم ړنګيږي
پتنګ ګوره پرڅراغ باندي کړيږی سوځل کيږي
دبلبل ځيګرهميش د ګل په خارباندي څيريږی
بيله داسي قربا نيوعشق مقصد ته نه رسيږي
دوفاه او د جفا دعشق داستان هم دا داستان دی
بيله عشقه دهيواده هيڅ انسان نه شهيد يږي
دا هوس دآزادی دی چي هر ځوان مو په نازيږي
که ځيګرورته سپر نه سي هيواد کله ګټل کيږي
زما ننګيالی بڅرکي اوردعاشقی دی چي بليږي
دوفاه په نوم ډيرلږ خلک اګاه دی يا پوهيږي

هغه څوک چي په پوهيږي نوتل به ويلي کيږي

يا شهيدوي ياپتنګ وي يا بوراوي ستی کيږي

**هرڅه وران سوه**

پردي خلک راغلي ساقی خپل په خوښه غواړي

مجلس ټوله پريشان دی رندان زموږدمنځه باسي

پيالې ټولي نسکوري ميکد ې ټولې خالي سوې

نوي ونوي فرمانونه فيصلې له ځانه باسي

دپرديو ترلاس لاندی خوشحالي چاه ده ليد لې

درواغ اوريښتيا ګډسوه دسيسې موږ ته راباسي

اوس انګرړرا ته پردی دی عقيدې دمنځه باسي

پردی خلک راغلي جوړي ميکدې دمنځه باسي

رندان خمارخماردي خوشحالي ټوله سوه ورکه

خپل ساقي موهم پردی سو چي ريښې دمنځه باسي

دې مردار ساقي په خپله ځان خرڅ کړی پردښمن دی

هرڅه دلته وران سوي دغه ښکلي زمانې دمنځه باسي

رندان که را بيدارسي ددرانه خوب څخه که ويښ سي

خپل اوپردی درک کړي په خپله نونشې د سره با سي

دميني ميخانه به بيرته خپله کړوباده

بيرته به بد رنګي زولنې دلاسه باسي

تاريخ ته ده معلومه چې پردي کله خپل کيږي
ساقي چي هم پردی سو نو ګيلې دمنځه با سي

**دسږکال اختر بيا رغلی د خيره**

اختر خوراغلی خوشحالی ئې شاه ته نسته
هغه اش هغه کاسه ده ارامي ئې څنګ ته نسته
ها! مسکين په نس وږی خوار به څه کړي
يوه روژه خوئې کړه تيره دخان لوږه نورنسته
د يګ خالي دی کوچنيان وږي هيڅ قطغ ئې کورکي نسته
نه لرګی سته نه تودوخه ارزان کوټ ئې ځان کي نسته
په دې ښارکي ښه بلددی يو ښه دوست ئې ښارکي نسته
دی پخپله خورا خستک دی داخترخې ګيله نه سته
دکوچينيانو ئې هم شور دی د وږو ځواب ئې نسته
نه به خلک ډ لي ، ډ لي ځي عيد ګاه ته يا کوروته
چي روغتيا ئې تظمين نه ده هم صحت ئې هلته نسته
بل پرهرئې کورسم ماتم دی چي جانان ئې پرکورنسته
کوچنی نجوني کوندي سوي، خپل نګارئې پرڅنګ نسته
داختربه څه اختروي چي خوښي پرکوردي نه وي
پر هيواد سياسی دوږي هيڅ اميد دباران نسته
موږژوند ي يودامنمه خو دکښت بيګه مو نسته

یا څوک تللی په سفردي یاڅوندي پرد نیا نسته

که دچاه اختر هم داوی دا خو ماته یو ماتم دی

نه پوهیږم چی فرمان داختر ولی تعریف نه دی

داهیواد اوس کربلا ده خو کر بلا کي اختر نسته

ترښاروهدیري پراخي پرکوم کورشهیدان نسته؟

ټوله تللي هد یروته په ښارو کې اختر نه سته

روږه تیرسوله ښه سوه وچي خولې موبیا لندې سوې

که په دغه ټول خوشحال یاست بل بد یل خودلته نسته

که د جبراخترزموږ د قسمتووي نوددې څه ګیله نه سته

که اختیارمودجنګووي راخپل کړی بیاګیله دهیچاه نه سته

اخترونه مو هم خپل کی ای ! ښاغلوافغانانو

طبعت درته درکړې ښه هستي ده مالیکا نو

دیوه غنم دپاره په جنت کي ستاځای نسته

په د نیا کی ښه اوبد دی په بدیوکي څه نسته

دا څلویښت اختره بس دی دجنګونو دشرونو

دادرنې جنازې ولاړې خولا پاته دی پر زړنو

دننګیال بځرکي امید سته مایوسیوکي څه نه سته

چی مو بیا سی اتڼونه خاموشیو کي څه نه شته

**ښکلا په ښکلی مخ کي روښنائي کوي**

په بازارکي چي مي ولیدې دوې نجوني
دواړه یو ځای تلې په لاره کي غبرګوني
دوی خویوځای په سن یودواړه جوړه تلې
رنګ بد لي اوپه خوی کي ښایسته تلې
دوی دواړه وې ښایسته په خوی بد لي
ښایسته په خوی ښایسته په خوله خندانه
دادوهمه وه ترینګلې خپل په مغذ کې نارامه
ښایسته په خوله خندانه مهربانه او هوښیاره
بد رنګی په خوی ترخه بدښکارید له
یوه ځوان وښایستې ته درخواست وکی
بدرنګی ئې په هغه د م ځواب ورکړی
ما کتله دوی می ټوله په خوینو کی څارله
چي په ښا رکی به همیش دوی ګرځید له
ښایسته په نرمه ژبه سوه ګویانه ږغید له
زه دي پیژنم کهول اومحل دي پیژنمه
زما صلاح زمادمورده نوپه کورکي کړه ظاهره
دهمدغه خایه ئې شروع دژوند ترون سو
دې هیوادکي دغه دودؤچي دناوی کورته تلله

دخبروڅخه وروسته ددوی هم دا فیصله سوه
دهلک اودنجلۍ جوړه ښکلې داکیسه سوه
دښکلا په ښو اخلا قو خوی ښایسته وي
هم په بخت کی تر بد خویواعلا وه وي
خدای ورکړی وهرچاه ته ښه رنګونه
خوپه بد خوی هم خراب کی خپل رنګونه
ښه او بد د چاه د مخه معلومیږي
ښه عمل دلاري مل د چاه یادیږي
د بد نیتوکار د رنګه معلو میږي
په خندا د ژوند ملګری پیدا کیږي

**هیوادیوه بنیادي تحول ته ضرورت لري**

زموږ هیواد پرړنګید و دی چي فرمان مود پرد ودی
یو مست سیند پروچید ودی شړپ باران پراورید ودی
سترسیلاب ته ضرورت دی چي ماران دپاسه راوړي
دښمنا ن د منځه یو سي شین آسمان دپا سه را وړي
په لمبوکي سوځید لي مخ په توروسکروتورایرو لړلي
دلته خپل پردي ګډ سوي لا ترڅوبه یوخاموشه غلي، غلي
انقلا ب ته اماده سی حق حقوق ته برجسته سی
دادغورزمریان خبرکی دحق جنګ ته اماده سی

دچغالوواک داری ده دزمریانو څه ئې زده کی
حق په عجزنه خپلیږي حق په زوراخیستل کیږي
دد نیا دغه قانون دی سرپرسربه اوربلیږي
دظالم کورونه سوځی انقلاب به پیل کیږي

**هربد بد راته ښکاري**

تور،تورکارګان پرشینه چمن بد را ته ښکاري
داپردي پال پر دې وطن بد را ته ښکاري
ځوک چی غلام سی بیا وطن خر ځوي
دا غلا مان پردې مد فن بد را ته ښکاري

پرشنه چمن خوبه همیشه وه دبلبلوادا
زموږپرهیواد دجنګ اوازبد را ته ښکاري
آزاد بلبل پر خپل چمن دآزادۍ نښه ده
دصیاد ښکارپردې ګلشن بدرا ته ښکاري

زه فقط خپل ژوند دخپل کورمخ ته مسؤن غواړم
هم یم بیزاره ددې کوره ځان ته سوله سمون غواړم
چاه ویل هیواد مي ده لیلا،لیلا ده د بل په واک کي
داسرګردانه لالحانده مجنون ته ښه سکون غواړم
کاروان دګټووی روان دخپل هدف په لوري
ودې هیوادته هم هد ف اوهم یو یون غواړم

بې ننګ ته ګوره دهیواد په نوم سودا لټوي

داسوداګر جاسو ترهر چاه را ته بد ښکاري

وهرهیواد ته زه دفکردخیالونوآزادي لټوم

که څوک آزاد نه وي په فکرخلک جنګي لټوم

ننګیاله یا څه سه داوخت دانقلاب اوآزادئ راغلی

خلک اوس سم په حق پوه سوي چي وخت دقربانئ راغلی

**داوسنی حالت ددې هیواد**

تیزبادونه دي چلیږي توري خاورى دي بادیږي

هم پرماباندي حمله ده ، هم پرتا بندی حمله ده

توري دوړي دي څرخي دوحشت یو ننداره ده

زما پرکورداسلسله ده ستا پرکورداسلسله ده

ددې ټولومرکزیو دی هم د یوځای څه راوزي

دادسولي ناره نه ده نه پرما دغه ناره ده

نه پرتا دغه ناره ده،پروطن دغه ناره ده

دغه ښاردی جین نیولی د د بیانوغر،غړې دي

هم پر تا باندي حمله هم پرما باندي حمله ده

په مرکزکي ئې غړومبی دی زموږ پرغوښوئې جنګونه

په هرږغ کي ئې توفان دی هم پرتاداسره لمبه ده

هم پرمادغه لمبه ده،پرهیواد غټه حمله ده

داهیواد د توفا ن کورسو توفانونه په کښي څرخي

نن پرما دغه کیسه ده بیا پرتا دغه کیسه ده

زموږ دذاته ګناه داده چي په ارګ کی موځای ورکړ

دوحشت دا معامله ده د د یبانو افسانه ده

پرهرلوري شیطانان دي داهیوادد شیطان کورسو

نن پرما دغه حمله ده بیا پرتا دغه حمله ده

داپه رنګ باندي سرِي دي خوپه خوی کي سرِي نه دی

ځکه تاته د سیسه ده ځکه ما ته د سیسه ده

انساني عقل خولوړدی،تردیبانو،پیریانیانو،شیطانانو

دادتورماښام کیسه ده دادتورتوفان راغلي انګیزه ده

داهم ماته صد مه ده داهم تاته صد مه ده

په فکروکی هیوادوالو بله لار د خلاصون نه سته

بس پرارګ باندي حمله ده دخلاصون دغه چاره ده

دشیطان ځالی کړی ړنګي دادیبان دي ولاړسي غروته

هم ددوی دغه پرده ده هم بیا زموږ دغه چاره ده

دیونودي کورګی وران سي په رمه کي لیوه تیرکړی

اوس ددوی څه داګیله ده ددوی زموږ څه داګیله ده

**چنبیلي ګل**

کندهاره چي انځور دي زما پر ذهن را ته پروت دی

هر یو ګل مي دي یا دیړي چنبیلي ګل مي پرکوردی
دشبوی وړمې مي یاد دي چنبیلي چی خوند ئې نوردی
کندهاره چي انځور دي زما پر ذهن را ته پروت دی
دګلانووه جشنونه دسردې ګلان تازه باغ ئې سمسوردی
پلا کیس او پوتینی یاجرییند مي زړه ته را غله
چي هرګل را یادوم رنګ اوبوی ئې دخوند نوردی
کندهاره چي انځوردي زما پرذهن را ته پروت دی
دهرکورښنګ ته ویالې ډکي بهیږي، دامی یاددي
په رودوئې سرتر پایه کندهار ټوله سمسوردی
سرپزې ته که ته ولاړسې چیلځینو پرسرغرپروت دی
کندهاره چي انځوردي زما پر ذهن را ته پروت دی
زما پرکورچی دګلا نوجشن جوړوزما دا یاد دی
یومناد چنبیلې وه سیمټي تخت هم پرپروت دی
دنارنج د ګل پردرختو دګلانو خوند ئې نوردی
کندهاره چي انځوردي زما پرذهن راته پروت دی
د ګلا نو سلسله ده کندها ر ئې هم لوی کور دی
دنرګیس ګل چي مشهوره سودا په شعر کي دنا زودی
دانرګیس دومره ښایسته دی چي انځورئې پراوبودی
کندهاره چی انځور دي زما پرذهن را ته پروت دی

دانارګل په باغوکې انقلاب اوسورتوفان دی
دفرشي ګلا نوموج بیا پرباغچو اوپرکورودی
کندهاره چې انځوردي زما پرذهن راته پروت دی
دموسم په هرتغیرکې دمیلوشوراوږوګ پروت دی
وهرلوري ته شین کړم دی دبلبلو شور ماشوردی
چنبلي ګلان مست سوي چې احساس ئې کورپه کوردی
کندهاره چې انځور دي زما پر ذهن راته پروت دی
که ورووزو،وه دښتو ته نودترخوسپلنیوبل احساس دی
خوشبوئي ده تراوت دی خوند ئې نوردی
ښارپه ښار،کلی په کلی کندهاردومره سمسوردی
کندهاره چې انځوردی زما پر ذهن راته پروت دی
که پرموږ داستعمارڅپې په زورخوري، ورې سوې
چنبیلي ګل لا ژوندی دی ګل ګلاب مست کړندی دی
مست بلبل دی ،مست مو ګل دی ، مست هم دی دی
کندهاره چې انځوردي زما پر ذهن راته پروت دی
که داشورمود ګلا نو کندهاررا تازه کړی سمسورکړی
خودبه یوکندهاره د مقره تر شنډ نډه پرغزله او بدله
دګلانوپه موجوکي دشاعر دیوان چې مست سؤ
دغه فکر دهیوادی دننګیال ژوند دلته هست سؤ

نه پوهيږم چي نصيب به مي وي سوی کنه سوی
کندهاره چي انځوردي په ښکلا کي راته سوی

## مناجات

زه ميخانه کي سرپرسرډکي پيالې ته کښينم
درندانومجلسوکي سرپرسروپيمانې ته کښينم
خدايه! راخلاصه ميخانه کې ددښمن له واکه
بيا په زاريو په دعا وو ستا روضې ته کښينم
که مې دعاوی ستا په در کي نه قبليږي ربه
بيا به زه ستا دلوی باورد تمناوارادې ته کښينم
زه دازله چي پيدايم دغه خواست دښواوبدوکوم
هرڅه کوم ښه به کوم بد به هيڅ وخت نه کوم
خدای خوتيريږي ترخپل حق بشربه نه زهيروم
ملا که کښيني په مسجد کي زه بې هم نازوم
زما اودخدای په منځ کي شيطانان نه منم
ددې شرابو بې نشې به زه جنت ته نه ځم
زما حسابونه دجهان دلوی څښتن سره سته
دا حسابدارد دې د نيا ته حساب نه ور کوم
زما تمنا ده چي دالوی شيطان له موږ څه واخلي
په دې دنيا کي دقانون اودائين اختيار نه ورکوم

ذا هد که خپل دستیج پرسره خپل اذانونه کوي

لوی اوکوچنی د خوبه څه باسي ازارونه کوي

دايو خواست مي قبول کړه خدايه ستا پردربار

هغه دحورو دشرابو څخه می کړه بې نيا ز

داچي تا ماته پردې مځکه لوی جنت جوړکړی

بيا دي ذاهد ته دا ختياردتوري هم ورکړی

ماته خو تا دي را ليږلي دادمځکي نعمت

ځکه دښکلو، دشرابو د لته نسته قيلت

زه ننګيال خوښ يم په ژوند ون دميني

مفتيان دروبوله وځان ته دهغه په کړيني

**داڅومره بې انصافي ده**

دانصاف تله کږه ده افغانان شاته را درومي

دخيا لونو سلسه ده نتيجه به دغه مومي

دکابل تمد ن ولاړی غلغله ښا رمو هم وران سؤ

دفکرونوپالل نه سته ورځ په ورځ خلک ځوريږي

نوي ښاردپارک وڅنګ ته هيروهين آزاد خرڅيږي

اوس په ټوله کندهارکي نغمه نسته نه ږغيږي

دپرد يو په دستورموسينما وی هم ورا نيږي

دغه لوبې انصافي ده چي فرهنګ موراڅه اخلي

ها تنویرد سینما ؤاوس مسجد پرآبادیږي

مسجد خانته دهنراوسینما فلمونه ځانته ارزښتونه

خدای دې خیرکړی چي مسجد پرسینما به ابادیږي

دتضاد په فلسفه کي هم وحد ت هم تکامل دی

تکامل لاره څېرلې دملا په شیطانت کله تمیږي

دهنر او دادب دنیا ده پراخه دا هیچاه نه ده تم کړې

دایوازي زموږ هیواد دی چي قانون شاه ته چلیږي

کوم چي هلته علم نه وي نو ملا به وي خود سره

زورد خلکو ورسره وي په اتم نه کنترو لیږي

داخولوبې انصا في ده چي ملا سیا ست پوه سي

نومسجد به هم سي پاته پر هیواد به تباهي سي

زموږپرملک هم خوشحالي وه چي ملاپرممبرناست ؤ

دا په څه ناورین اخته سوچي ملا سیاست پوه سؤ

زموږ دښمن راته پېټ نا ست دی زموږ ملا ئې رانیولی

هم خرڅیږوهم جنګیږوهم په تورد دوی مړه کیږو

پردې ملک توره تیاره ده غوړیدلې پرذهنوموتوره شپه سوه

روښنا ئي په کښي محکومه په تیاره کي ګټي کیږي

**دافت خلک**

چي هنر او علم نه وي دافت بازاربه تودوي
دپو هانو به فراروي دنا پوهه به کار جوړ وي
دافت دا نښانه ده چي فکرونه په کښي سوځي
بيت المال دخلکولوټ سي خائينان بياباديږي
مصيبت ورته ميله وي هم ترويش خوشحال په چوروي
دغيرت اودهمت رګونه وچ سي لاس د ظلم برابر سي
دافغان پرهيواد چي افت راغلی دادغلو ځالي تودې سوې
وکيلان کونا ټورسوه، وزيران مو خيټورسو
لاس ئې اوږد کچکول په لاس کي دغريب په نوم بزنيس کړي
دخيرات يو څه چي راسي، دد وی بانک ته سر پر سرځي
په خارج کي استعماراو په داخل کي ارتجاع سره يوسوي
دغه زموږدهيواد حا ل دی چي هرغل په کښي قارون سي
په توفان باد اوباران کښي ټول ليوان په کښي ماړه سي
دوحشت لمبه چي بل سي دا پتنګ په کښي لا سوځي
دافت او دفتنې خلک پيداسي پرقانون باندي واکمن سي
هغه چاه چی هيواد خرڅ کړی دهغه نوم به لا ښه سي
رواجونه ټول افت سي، بد په بد وسره نغښتي
قاضي خپله يو مجرم وي دظالم تله درنه سي

دننګیال بڅرکی اورهم د بخار په شان او به سي
نه ئې زوراو نه ئې اورسته په شعروکې ننداره سي

**یارانه نسته مروریم**

داسي ژوند داسې حالات دی دزمانه ګیله مند سوم
نه می یار نه مي همراز سته دجهانه ګیله مند سوم
څه عجب توفان راغلی دانسان څه ګیله مند سوم
هیڅ یویارمي پرلارنه سوخپل دځان څه مروریم
پر ځیګرمي دپردي توپ نښانه ده دهیواد څه ګیله مند سوم
اعتبارچی په پرد و کړم،ددې رنګه شان هرڅه مرورسوم
ایماندارملا دځانه یم شړلی دمسجد ددې ملا څه مرورسوم
دخپلوئ رینې شلید لي راته بریښي دخپلوانومروریم
چي باورمي پرکوی هغه یارنه سودهمدغه یارنې څه مروریم
هریوخپل په ګټه ورداوبو باسي دانصاف ددروازوڅه مروریم
هیوادونه سول تباه په دې جنګوکې دناټو ددې کمال څه مروریم
دساقی سره انصاف د تقسیم نسته د می خورودباندارڅه مروریم
دنړئ پرسرد کم عقلو پاچهي ده د (یونو) ددې کمال څه مروریم
دمذهب په نوم همداسي تجارت دی دشیخانودانصاف څه مروریم
خلک ناست دي لاس ترزني د بې غمه بې پرواڅه مروریم
راهبران چي په پیسوباندي خرڅیږي دډالرودنظام څه مروریم

**استقلا ل**

عجب غیرت عجب حرمت لري
عجبه نوم عجب عزت لري
دعزت نوم ئې پر جهان دی
دغه زموږ افغانستان دی
دغه لوی نوم داحمدشاه بابا ؤ
د د ترمخه میرویس خان بابا ؤ
دغه لوی نوم دشهامت لري
هم په نړۍ کي خپل عزت لري
ددوی څه وړاندي لوی شیرشاه دی
بل ئې غوري شهاب الدین شاه دی
شاه محمود فتحه دایران لري
دی تاج او تخت داصفهان لري
اشرف خان هم په خپل همت راغلی
دی دهوتکو په غیرت راغلی
عجب غیرت دافغانانو دی
دنیکه ګانو تر لمسیا نو دی
دآزادۍ نوم او نښان لري
بیرغ به لوړ افغانستان لري

کوم پر ملک باندي تو فان راغلی

که دا دچین یا نګلیستان راغلی

زلمي په جنګ کې ئې داتوان لري

لوړمو بیرغ افغانستان لري

ځلمیان مو مړسوه زرهاولکهو

خود به غمونه وي پردغو کورو

موږ استقلال ساتو په خپلو سرو

دا همت ستوری بیا ، بیا راغلی

هم هغه پښتون امان الله راغلی

هیواد ئې خلاص کی د پرنګه څخه

دبدرنګی دبې ننګی ددغه ننګه څخه

**دهیواد شهیده (ستاره اڅکزی)**

دهیواد پر نوم خو مړنه دی ژوند ی دی

کارنامې ئې پاته کیږي تل ترتله بریالی دی

دهیواد په نوم ویاړلې دهیواداصیل بچۍ ده

دهرعصر یوه ښځه خپل دعصرملالی ده

دهیواد په نوم خوډیرشهیدان سوي دابچۍ ده

خواوس ګوروچي د ښځوناره هم دآزادۍ ده

که دلمرسپوږمۍ ښکلا بیا پرآسمان نه وي

دآسمان ننداره ټوله سرپرسر په تاریکۍ وي

داد م او دهوا په نوم جوړه سوې که نړۍ ده

طبعت کي دي پیدا ښځه هم دنر په خوی ده

هره ښځه حوصله کې ترمیړونوګړندۍ ده

دهیواداودخپل کورپالنه د سړیواودد وی ده

پرمیدان د سیاست اودجګړې هم دا ځلیږي

یومثا ل ئې دی ایند را بل ملا لۍ ده

پرد نیا چي نراوښځه دانسان په نوم یا دیږي

ښځه نرواړه بنسټ د د ې نړۍ ده

کوم هیواد چي دا انډول وي خراب کړی

هلته هر انصاف سم د م وي ویران سوی

ستاره چي د هیواد په نوم نن مړه سوه

یاد بې تل وي دامړه نه ده شهیده سوه

ستاره وه قهرمانه دهیواد په نوم شهیده سوه

دحق پرلورروانه په وینوکې ټول سره سوه

دننګیال فکرخو وائي : ستاره موستاره سوه

هرهیوادقرباني غواړي خوداشخړه اوږده سوه

څلوریځه

نوم دښو او بد و دواړه رسوا ئي ده

خو یوښه او بل خرابه پالیسی ده

دادښوغوښوخو ښه ښوروا جوړیږي

د بد نسله څخه بد نسله پیدا کیږي

څلوریځه

ته لایق دتحول اونوښتګرئې

ته دځوان نسل سمتګر ئې

ته لایق دښه صفت دهرشاعرئې

ته منلی دزمان دپرمختګ ئې

**د ۲۰۲۰م کال لوی اختر دکرونا په شرایطو کې**

نه مي کورته څوک را تلای سي

نه ئې کورته زه ورتلای سم

کورد کوره څه سوه بیزاره

کرونا ده نه ورتلای سم

مسجد وته ورتلای نه سم

د ځان مرګو د مرګو څه

نه به شورد د ې عیدګاه وي

ولمونځو ته ورتلا نه سم

حج هم پاته سوله ما څخه

دطواف دګرځیدوڅخه ئې خلاص سوم

نوګناه به نه کړم نوره

دادحج دفریضو څخه ئې خلاص سوم

لوی شیطان خوکرونا ده

چې دوخت دفریضو څخه ئې خلاص کړم

زما په زړه کې عبادت دی

دریا ددې ظلمو څخه ئې خلاص کړم

لوی اخترمومبارک سه

دخوړو، خوړوکلچوڅخه ئې خلاص سوم

اوس خپل کورکې ورته ناست یم

دحجانودورتلو څخه ئې خلاص کړم

دا خپل،خپل زړونه موصفاء کړی

دعربود پیسو څخه ئې خلاص کړم

سجدې کوی پرمځکه هم قبلیږې

دسفردتیارو څخه ئې خلاص کړم

کرونا کې هم حکمت دی

چې دوخت دمصرفوڅخه ئې خلاص کړم

اوس غریب او خان یوشان سوه

دتوپيردپيغورو څخه ئې خلاص کړم

داخترمومبارک سه هيوادوالو

دبې ځايه مصرفو څخه ئې خلاص کړم

لو کعبه خومو دزړده په خپل زړه کي

ددې ليري فاصيلو څخه ئې خلاص کړم

دننګيال بڅرکي لوی ارمان پرزړه دی

داختردډې لمونځو څخه ئې خلاص کړم

**دهيواد مينه**

دلـتـه زه هم ورتــلای نه سم دغه ځای د لـيـونــو دی

داجونګړه اوس زموږ نه ده دغه ځای اوس دپردودی

دلتې توربارورت ښند لي د لته کښت مو د مينودی

ګلان نه په کښي غوړيږي ځکه کښت اوس دبمودی

چي جسمونه په کښي سوځي دلته اوراوس دلمبودی

عقل فکرځيني تښتی دغه ملک او س د پرد و دی

عقيدې موزنداني سوې هرهوښيارمحکوم په ترورډی

چي فکرونه په کښي سوځي نه د د يد، نه ده کتودی

دهيواد مينه سوه مجريمه څوخائين پرد ې کوردی

دښمنانولاس يو کړی سيا ست د لته د پردو دی

دخائينوواکداری ده ځکه ناست دبل په زوردی

سوله ځکه نه غوړيږي دغه کښت اوس دبمودی

چي شهيد مومعلوم نه دی دغه جنګ مو دپردودی

چی خويونه دفرعون کړي داخوناست دبل په زوردی

دلته هر خائين آزاد دی ځکه لاس دبل پرپروت دی

دلستوني ماران ډيرسوه هريو زموږ په وينو موړدی

نړۍ ټوله راته ګوري دغه حال زموږدافسوس دی

دغفلت په خوب بيده يودغه وخت کله ده خوب دی

نن د ښمن پرموږآبادسو نورنو وخت دويښيد ودی

را چپه مقار دښمن کړی زوړ رژيم دا و ښتود ی

انقلا ب يوه نا ره ده دغه کور ټول د زمرو دی

دخلاصون لاره داغه ده کنه غم موکورپرکوردی

دا رژيم مو هم خپل نه دی چي اختيارمودپردودی

زورپه زوربه محکوميږي دښمن ستا په وينوموړدی

دهيواد استقلال خپل کړی د غه حق پرتا يوپوردی

که نه ورک سوې دنقشې څه تاريخ هم دغسي جوړدی

دننګيال بڅرکي ږغ هم پر(يونو) دی وايي بل مودلته اوردی

دلته هغه څو ک هم سوځي چی را وړی ئې دا اور دی

**طبقاتي ژوند جنګی ماشین پر څرخ را وستۍ**

فلسفه دنوي عقل پر نړۍ سوله چاپیره
چاه لید له چا بیا سترګي پټولې ددې پیره
عدالت اوانصاف دواړه د ظلمونوبیلېد له
انسانان سر جلاسوه چاه خوړله چاه کرله
دبې وزلو نا چاری وه چاه پلورل،چاه رانیوله
څوک بادارسوڅوک غلام سودغه لیکه بیلیدله
طبقات سوله رامنځته تاریخ ټول یا داښتوله
فکري دنیا دانسانانو په خپل منځ کي بیلید له
څوک حاکم سول په خپل حکم ګرځید له
زورپه زوره لټوید له چي کرګروبه کرله
دزبیبناک قیصه اوږده سوه انسانان به ئې پلورله
دلته سر پر سرسودا سوه حکـــو متونه جوړید له
دانصاف ترازو سری سو عدالت هم وځغستله
دولت جوړسودخانانو،ملکانونورملکونه بې نیوله
نوردولت جنګي ماشین سوخپل ملکونه بې ساتله
دمظلوم ولس په برخه تورزندان سو،بې ګناه زندان ته تلله

## دغلو ځاله

دلته تور کار ګان راغلي دچمن ګلان تالاسوه
بد نصيبه بلبل کوچ سو وچمن ته لو بلا سوه
تمدن په اور کی سوځي دتنور ناري سوې پورته
دلته لوړفکرمحکوم دی اوورلويږي به دې اورته
دغيرت خبري ولاړې هربې ننګ دلته سمسوردی
دجهانه شړل سوي دهغوی اوس د لته کور دی
چيغالانو ماکس تړلی دپرانګانو په رنګو کې
زمری هم په تيروتلی دچيغال په دې مکروکې
که چمن کی تور ګارګان شمال را وړي
وه ځنګله ته چيغالان اوګيدړان مقارراغلي
زموږ پرکورئې ليونيان پرموږ ترپلي
دهر ګوټ څه ګمرهان دنياراوړي
يوپه ږيره مسلمان دي خوعمل ئې دشيطان دی
پرهر تارئې د ور يښتا نويوشيطان دی ځړيدلی
دشيطان په مد رسو کي ئې طالب ملا روزلی
نه ملا دی نه طالب دی بس وجنګ ته ئې روزلی
دادفکر آزادی چی پر ملک نه وی پاته سوې
خامخابه شيطان هم هلته وی ځاله جوړه کړې

حق حقوق ته عقيد ت هم سمد م دلاری خنډ دی

آزادي اواستقلا بيا لوی نعمت اولوی قد م دی

**دظاهرافق پر مړيني ويرنه**

دغمونو پېټ سيلاب مې پر مخ راغلی

غلي، غلي ئې ځای کړي پېټ غمونه

دافق په کنګرو کې سره وړانګه سوه

په کښني وسوځل دجهل پېټ را زونه

لمر را وخت کند ها ر په منورسو

پر زلمو باندي ئې وکړه ښه نازونه

دچاه لاس کي ئې کتاب دعقل ورکړ

چاه تې ورکړه دغورځنګ پېټ،پېټ درسونه

څوک ئې واړول بد لون اوتحول ته

چاه تې ورکړله د فکر بد لونونه

توري شپې ئې کړې رڼا په خپلووړانګو

اورا ويښ ئې کړل دخوبه ولسونه

په فيضونوباندې دوست دښمن اګاه سؤ

او ور يا د ئې کړل د وخت تحولو نه

اپيکور قلم پر مځکه ورته کښيښود

فورباخ هم ور ته وکړل سلا مونه

پرتاريکو ککريورا ظاهر دافق وړانګي

چي ئې وکښل په قلم دفلسفې درسونه وړاندي

په هنر او په ښکلا ئې طبعت را وسپړلی

هم هغه ئې په مفهوم دفلسفي ووده ليکلی

هغه چا چي دافق دمدرسې درس ولوستلی

هغه هر ځای چي اوسيږي دی ښاغلی

هغه هريوئې لري ستر،سترخيالونه

اوپه ځان کښي ئې لري ډيرصفتونه

چا بيا زده کړه سياست کي پټ رازونه

ورته وې کښل بې حسابه مضمونونه

دځوان فکريومشعل ؤدځوانانوهيوادوالو

دافق په پلوشو کي ما بځرکي لګولي وه اورونه

هم مې زده سول د نړۍ دتحول علمي درسونه

**مجاهد او امريکا**

وګوره ظا لمه امريکادي توک په غاړه کی

عبادت ئې د ر بيکاره کی

روس امريکا مات کی ولی تاته ئې کوم نام درکی

نوم دي داسلام بد کی

نوم دي داسلام ؤ، داسلام په نوم دی جنګ وکی

ځانته دي بل رنګ ورکی

خرڅ دي داوطن دامریکا په ډالرونو کی

وران دي په بمونو کی

ورک سه خراشراره دسور بریتو دټانکو سره

دع،غ د حکومتو سره

ښار د ما فیاسو د بمونو مور پر تا لو یږي

ږغ دي داسلام خیژي

ږیره دی اوږده کړه چي سونت به دنبي ساتي

فرمان دفرنګي ساتې

ږیره دریا دی دفیشن په نوم خریلې ده

خپله مور دي غلولې ده

خپل عرفان دي وسوځی اوس څه امتیازلرې

په نړی کښي کوم بازارلرې

ستا دذخیرو څه نن غربیان ټول په مستي کی دي

داستا په ساده ګي کي دي

راسه چي حساب وکړو ستا پلار کوم مټه خردرلود

یا ئې کوم بایسکل درلود

اوس دښارګوټو پخې خښتي دي له کومه کړې

غلادي دخپل ورونو کړې

غلا دي ددولت مځکي دهرکونجه راغلي کړې

خرڅ دي په ډالرو کړې

نوم دمجاهد دي پر ځان ايښی دی اشرارسولې

ځونده ډير بد نام سولې

ستا د وطن پريکړي به نا ټو يا امريکا کوي

ستا به څه پروا کوي

ته به ئې خوشحاله چي کوټی دي مر مري سوله

همدادي خوشبختي سوله

نور جهان خوولاړه ترمريخه دتخنک په زور

ته لاناست دتاريکی پر کور

ستا پر سر سودا ده اوس ته پوسه ددښمن په چال

را ووزه دفرنګ دجال

په ډيره اسانتيا ئې پر ځګر ستا سيم خاردارتيرکی

ځونده ئې اسان تير کی

نوربه دی تر دغه لاهم سپی اوهم زليله کړي

عقيده به دي با طله کړي

مه کښينه افغانه چي تاريخ دی په خطر کی دی

لوی دښمن په ځنګ کي دی

غټومد رسوکې ماربيچيړيان درته روزلي دي

سم ئې هيپان کړي دي

رازمي اوس ښکاره سو ودښمن ته هم ښکاره وايم

نې پټ استعاره وايم

لوی دښمن پنجاب دی چي لاناست دفرنګی په زور

دلتې توان دجهادي په زور

دننګيال بځرکي اخيرينه دا دعا ده دتاريخ دشاهدي په زور

اووزي دسوتې په زور

**هغه ښار ته به درځمه**

چي ناصيح ئې نصيحت کړي او ذاهد خپل عبادت کړي

هغه ښارته به درځمه

چي مولا ور کړي لمونځونه،او طالب ځيرې کړي ټولي

هغه ښارته به در ځمه

دتوپک سړی معلوم وي،پوخ جنرال ئې قومندان وي

هغه ښارته به در ځمه

چي د نجونو سيل روان وي د مکتب پر هريولوري

هغه ښار ته به در ځمه

هلکانې فيشني وي ينفورم د رشي وي دمکتب پرلوررهي وي

هغه ښار ته به در ځمه

تجاران خپل تجارت کړي پربازار شيان ارزان وي

هغه ښار ته به در ځمه

چي اوازد مرمۍ نه وي په ارامه هرسړی کورته رهي وي

هغه ښارته به درځمه

ميخانې ډکې،ډکي له رندانواو ساقی هلته ارام وي

هغه ښار ته به درځم

څوک په چاه باندی ګرم نه وي او قانون هلته واکداروي

هغه ښار ته به در ځمه

درمسال وي هم اسلا م وي هم شعيه وي هم سني وي

هغه ښارته به در ځمه

چي دفکرآزادی وي، خپل موواک خپل مواختيار وي

هغه ښار ته به درځمه

دګوندونوانتخاب وي وشوراويا سنا ته تګ آزادوي

هغه ښارته به درځمه

نر او ښځه مو آزاد وي انتخاب ئې خپل په لاس وي

هغه ښار ته به درځمه

هر خائين په کښي محکوم سي قانون پلی پر انګړسي

هغه ښارته به درځمه

چي ميلې په ورځ او شپو سي، ارامي موپر هر کورسي

هغه ښارته به درځمه

عدالت کار دقاضي وي نه دهر لوچک سړي وي

هغه ښارته به درځمه

سوله مل دپر مختګ سي په نس موړ هر کاریګر سي

هغه ښارته به درځمه

دټولنی رنګ بدل سي، بزګرپوهه په خپل هدف سي

هغه ښارته به درځمه

پر توزیع عد ل مقررسي کاریګر د تولید مل سي

کور،کالي، ډوډۍ مو برابرسي کارموټوله سم سي

هغه ښارته به درځمه ، هغه ښاربه زه پالمه،هغه ښارآبادومه

**انقلا ب نه و انفلا ق وو**

زموږ کورونه په کښي وران سو

چا بیا جوړ کړه غټ قصرونه

څوک را ووتل میدان ته

چاه بیا بایلول نومونه

چاه جیبونه خپل خالي کړه

چاه بیا لوټ کړله بانکونه

د چاه ولاړله نسلونه

چاه بیا ډیرکړل اولادونه

دچاه انګړ خالي له خپلو

چاه ئې واخیستل کورونه

چورچپاوپرملک حاکم سو

خپلووکړه داکارونه

دانصاف کاسه چپه سوه

چاه چی واړول پربله

څوک اوس ناست پرخرابودی

چاه بیا جوړ کړله قصرونه

په ملي خیانت چي ګرم سوه

ورپه نوم سوه غټ ځایونه

بیګانه پر ملک حاکم سوه

وناااهلو ته ئې ورکړه مؤقفونه

دچاه کور پروت خرابه دی

چاه بیا جوړکړله ښارونه

څوک ملک ته ورتلای نه سي

چاه بیا جوړکړه پلټنونه

څه امید هم دښو نه سته

بس کوبه خپل فکرونه

زه ننګیال بڅرکی ځکه مایوسی کړم

ولاړه تير سوله وختونه اوعمرونه

**دکندهار سينما**

هغه ژړ قصر چپه سو چي ځوانان به پررا ټول وه

هغه مازديګروران سوچي باغچو ته به ټول تلله

هغه ژړځوانان موڅه سوه چي سينما ته به ورتلله

پښتونيستان هوټل ډ ک ود ځوانانومجلسونه بې کوله

ميرويس هو ټل مشهوروښې چارۍ به خان راوړله

تفريح ته ضرورت وځوانان به سينما ؤ ته ور تلله

منزلباغ څونده لويه تفريح ګاه وه سينما ئې هم لرله

شاه او خوا ئې منظرې وې ښايسته ځوانان ورتلله

کندهارځاى دعلم ود فن ؤښه ځوانان ئې درلودله

تفريحي اباد باغونه پنجشنبې به پرباغونو ګرځيدله

خپل ئې ذوق وچاه کوله سترنجونه،چاکول سياستونه

جمع جوش وپه بازارکي پرهرلوري خوشحالي وه

طالبيزم دي اورواخلي سينما ئې ړنګه ، بنګه کړله

امپرياليزم دي اورواخلي مولايان ئې را وستله

ها دخوند کندهارولاړى پرميدان څوک پاته سوله

ده مولاوطالب پاته سومسجد لارئې خپل کړه بدله

سوداګري پرمذهب غوټه سياست ته وا وښتله

دښمني سيلۍ چليږي شيطان ځا له وموند له

داشغال قهرمانانوخپل پرخپلوويشله

اوس هيوادراته پردی دی کنه ځوک دلته را تلله

دکورمخ را ته پردی دی اروپاه ته ځوک راتلله

زما ننګيال دفکر دنيا هلته چي ياران می اوسيدله

بد پربد ورا ځرګند سوه ښه ئې هر څه تباه کړله

**دمور په باب څلوريځي**

محبت که لوی جهان دی خوداته ئې

داجهان که نن جهان دی خودا ته ئې

حوصله دي پر جهان ده ازمايلې

د نړۍ که شوکت شان دی خوداته ئې

**دوهمه څلوريځه :**

زه ارام وم ته به ويښه زه به تابيده کولم

په نازناز دي لويولم ،په للودي بيده ولم

جنتونه دی نصيب سه زه په تا به نازيد لم

که ته خپله په زحمت وې تا دځان سره ساتلم

**څلوريځه**

مځکی تاته موسپارلې په عزت ئې ساته

دلته زموږ موركی دښخه په حرمت ئې ساته

دغمونوددنیاڅه کړید لې ستړې سوې ده راغلې

نن مو حق ته ور سپارلې په حرمت ئې ساته

**غزل**

سهارد ځوانی مي ماښام ولاړی،ولاړی

بهارد ژوند مي خزان ولاړی، ولاړی

زمان د ځوانی مي پرلارولاړی، ولاړی

تقد یرمی دخپلوپرشاه  ولاړی، ولاړی

دسولی ارمان می په اور کی ایرې سو

کاروان دګلابو خزان ولاړی ، ولاړی

امید مي دوخت پر سها ر را څه ولاړی

سهارسو ماښام سو زمان را څه ولاړی

دژوند خزانه می هم لوټ کړه په مینه

داستا ن دعشق پرکتاب را څه ولاړی

دذهن خوناب مي خونین انقلاب سو

طوفان دسروینو دریاب را څه ولاړی

بلبل مي دباغه اوچت را څه ولاړی

ګلاب مي دزړه څه خزان را څه ولاړی

میخانه سوه مسجد خربات ولاړی ولاړی

مولامو ساقي سودین ایمان را څه ولاړی

چي خپل مو پردی سوه باوربه په چا کړو

عجبه دنیا سوه نوم نښان را څه ولاړی

طوفان دسرو وینو درياب را څه ولاړی

بلبل دخپل باغ مي سهار را څه ولاړی

باغبان می پردی سو خپل باغ را څه ولاړی

ګيله به د چاه کړم هیواد را څه ولاړی

دښمن مي دځان سوجانان را څه ولاړی

سهار دځوانی مي ماښام را څه ولاړی

عبث می سو عمر زمان را څه ولاړی

دسولی ارمان کي کاروان را څه ولاړی

زاړه تلسونه ، خویونه پالم په فکرو کې

دنوي ژوند ون تخنیک کار را څه واړی

دننګ په خیالوکي ننګيال را څه ولاوی

دعمراوږدوکي خپل خیال راڅه ولاړی

**حلتونه تغیرکوي**

مجنون به دلیلا څه وخت ، وخت خپه کيږی

خو نه بيزاريږي

دهيواده څه خوابدی په هجرت کي وخت تيريږي

هيواد کله هيريږي

ددوستانو يارانه ده کله ، کله به همداسي زړه تنګيږي

خو نه سره بيليږي

فلسفه دتضادونه يودبله خونښا کيږي بيرته يو ځای کيږي

حرکت ئې نه دريږي

دجهان سيستم ته ګوره چي هروخت ئې جنګ په خړپ وي

بيرته يو دبل په ښنګ وي

په تضاد کي مو هم خيردی خو موږ ته نه را معلوميږي

نه په لاس مو دالمسيږي

دنن ورځی خوابدی پريږدی بيرته خو شحاليږي

زړه نه ځيني توريږي

احساس چي کله لوړسي سمد ستي عقل توريږي

سخت جنګ ځيني جوړيږي

عقل لويه تجربيه ده چي احساس په کنتروليږي

مدارته خپل رسيږي

دفرهادبه دشيريني په تلاښ کي سرما تيږي

ويصال ته به رسيږي

هيڅ وخت خوابدي نه سته حق حقدارته چي رسيږي

سړی که دوجدانه وشرميږي

دظلم پای همدادی که فيصله په سوله کيږي

وجدان به قاضي کيږي

نړۍ سول سره بيله پرغلا نه سره جوړيږي

پرتقسيم ئې وژل کيږي

داټول دګټوسوال دی طبقات ځينی جوړيږي

دوی نه سره چليږي

تاريخ به ځيني جوړسي هر حاکم به محکوميږي

کاروان به ښه چليږي

دننګيال بڅرکي اند دی هم فکران به را ټوليږي

هيوادبه بيا جوړيږي

**دښه حاکم ښه کړنه**

هرنااهله پا چهی کولای نه سی

هرحاکم دولس زورليدلای نه سي

پا چهي په زوره نه په عقل کيږي

دعاقل فرمان په عقل ښه چليږي

پردنيا چي پاچهان دي پاچاه سوي

څوک نامداره،څوک بدنامه بيرته تللي

چاه خپل ځان ته وی کارکړی اباد سوي

چاه جهان وي سمسورکړی بيرته تللي

وخت تيريږی که پا چاه وی يا ګدا وي

نوم دښه او دبد پا تيرږی که دانا وي
عدالت ته لاره خلا صه کړه حاکمه
کنه خلک به سي ټوله ستا بد بينه
په دربارکي دي چاپلوس ترنظرتيرکړه
ريشوت خوره دي هم ورک کړه رنګ ئې هيرکړه
خپله ښه کړه هغه مه کړه چي ښه نه وي
دولس سره نژدې سه که دي زده وی
دادخلکوزورته ګواره دخدای زوردی
فرعونان ئې چپه کړي لا هم نوردی
هرپاچا په طبعي مرګ چي مړسوی
هغه ښه پيغام دخلکو څه دی وړی
واکمنان په دې هيوادکي خلکو چپه کړي
هم تللي دي بدنامه په بددول وژل سوي
نو را خئ چي خپل ملا تړ دخلکومل کړو
دنړی دراهبرانوڅه ئې زده پرپل ئې پل کړو
دننګيال په ژوند کې ډيرحاکمان راغله بيرته ولاړه
دې هيواد کښي ئې ناتارپرخلکوجوړکی بيرته ولاړه
نه ئې راتګ سوګټورؤنه ئې تګ چي بيرته ولاړه
آسمان هم له موږ خوابدی پريشته هم را څه ولاړه

## حج

ماته حاجي مه وایه ما حج لیدلی نه دی
زه دغریب هیوادیم مامور لیدلی نه دی
زمادخپل کورپه څنګ کي ډیرغریبان پراته دي
په نس کشته دي پر ښار بیا بان پراته دي
کعبه نژدې ورته سته ثواب دلې ورته سته
دغه خود خواه ته ګوره جنت دلې ورته سته
ذکات خیرت ئې ګوره هیچاه لید لی نه دی
انصاف ئې هیڅ وخت په تول تللی نه دی
داخو ثواب نه لري دابازاري ګټه سوه
وحج ته تګ په مقصد خوتفریحي ګټه سوه
حاجي صاحب ته کوره نوم او نښان لټوي
دوی په دې ښه پوهیږي ځان ته تاوان لټوي
څو ځلي حج ته ځغلي دی خو ګناه رژوي
بیرته چي راسي کورته بیرته ګناه لټوي
هلته شیطان وولي شیطان پرده وخاندي
وای زما په رنګه،حاجي بیا ما وه ولي
افغانستان نه حاجیان عربستان ته ورځي
پیسې به دوی ټولوي جنګ به پرماراولي

ملا ستا دلاسه

څه عجبه زمانه سوه ، ګډه ، وډه فلسفه سوه
میخانه مودخدای کورسوسجده پرمیخانه سوه
ګډه وډه زمانه سوه چي مکتب مومد رسه سوه
ملابړیره وخریله بې ګدره سیاست ورایله سوه

توفاني ژلۍ رااوري زرغون باغ مو کنډواله سوه
خښمید لی خړاسمان دی دشفق ننداره سره سوه
مځکه هم شیطاني کورسودقیامت شپیلۍ خپره سوه
دافق کنګرې سرې دي مځکه اورسوله توده سوه

مځکه شاړه سوه بې کښته چي منځ کې تاتره سوه
دامید کښتۍ چپه سوه چي پر خوائې لو څپه سوه
اوس ملاحکومت جوړکړی د طالب ئې هم میله سوه
ددین کارسو ځیني پاته په دولت چي دوی اخته سوه

سرپرسرمرګونه کیږي داحمله قاتلانه سوه
اهریمن شیطان راغلی پرملا ئې دغه شپه سوه
میخانې ئې کړلې بندي خپل مسجد ئې میخانه سوه
دهنرد نیا محکومه دغه لویه هزینه سوه
دشاعرپه فکرورا ن سوه ټوله ټوله بنسټونه
داهیواد ملا خراب کي نوربه ګورو حالتونه

**بې مشره هيواد**

دادغرو د څو کو غټ با زان موځه سوه

په ځنګله چي دننګ زمريان هم مړه سوه

دځنګله درختی موټول چوراو تالا سوې

نــا بلــلي مو پرکـــوررا ميلـما نه سوه

دسيند نو او به ولاړې بې حسا به وبل کورته

جګ ، جګ غرونه مو د خاورو سره مل سوه

چي په يودانه تسبيح عرب مهتا ج وه

نن هغه غرونه سوه دښتي اوسپيره سوه

دا ګيله به د چاه وکړوڅوک موغل دی

خپل پردي مو سره ګډ سوله اوورک سوه

دځوانانو وينی توی سوې بې حسابه

دوستان ولاړه دابد په خوب بيده سوه

دآسمان کنګرې سرې سوې ملايکی ورته ژاړي

دظلمونو سلسلې دي په ما وسوه په تا وسوه

د د ورږخ دروازه وان ورته هيران دی

چي دشيخ په مد رسه کې جلسه وسوه

بهرني دښمنان هم دوی را دعوت کړه

په خپل کورکی ئې د چور فيصله وسوه

زه ننګیال بځرکی ځان کم زوری بولم

چي په کورکی می خپل ورونه راته غله سوه

**حقیقت زور دی**

چی هرچاه توره ترملا کړه هغه زوردی

دادتــوري اوتوپـــک خاوند تل موړ دی

دادعلم خاوندان چي پرسپیروکتابوګرځي

د د ې بهر په ځپوکــې کـــا ر جوړ دی

**غــز ل**

تا د حیا با نړ پر څه پورته کی

زماد زړه دی غم یوځه پورته کی

ماچي پیاله د میولاس ته کړله

ستا پرشونډانومي هغه پورته کی

پیاله د میوچي مي سترګی کړې سرې

نه وم خبر آح مې د زړه پورته کی

ما ا ور یـــد لي وې کیسې دجنت

اوس مې پرمځکه عکس د لې پورته کی

زما که ګناه وه دا ګناه مي تلواري غوندي وه

یو جام د شونډ ومې د لې پورته کی

چي د ښکلا معشوقه نصیب ته راسي

نو څه خبره که مادلته تا هورې پورته کی

توپیربه زمااود ذاهده په منځ کې څه وي

که تاساتلی وي سهارته مادشپې پورته کی

ذاهده ګوره قسمت هرچاه ته دخدای دخوادی

ما خپل قسمت دښکلو مخ کي بې توښې پورته کی

**سترې مه سې**

دې د نیا ته په اختیار نه ئې راغلی

اوس چي راغلې دې دنیا ته سترې مه سې

دلته لوی مقام ګټل انسا نیت دی

که ددغه فکرخیال ئې سترې مه سې؟

دغه څلوریځه : زما لمسي عیسا خان ته ویل سوې ده.

**چاه وران کړه**

چاه وران کړه دا باغونه شنه ،شنه پالیزونه

ځینوو کښله د بیخه شنه فصلونه او ګلونه

لکه اوښ چی د پالیزجړونګان دبیخه باسي

ملا خپل د ځانه د خان مرګ فرمان راباسي

پردي پاله ذاهدان تسبیح په لاس کي

زما په کورکي راته ناست فرمان راباسي

تورځټا ن مخ ئې خپل، زړه پنجا بی دی

غټه ږیره خوپه ذات دی پرنګی دی

غوړي څڼي راروان دی تبلیغات کړي

نه ئې ځای چا ته معلوم دی داعیشی دی

دکوم ملکه صادرسوی بې سنده دلته ګرځي

بې پاسپورټ دی راغلی خپل نه دی پردی دی

دفرعون په ساه سوځي دادوخت سمسورګلونه

ړنګوي ثمردونوهم دخپل وخت پاڼي ګلونه

**ورکه مینه**

ارغندابه ستا دسیند پرغاړه ناست یم په فکروکي

شین آسمان دپاسه د تند لمرپه دې ګرمو کي

یو لحظه سکون ارام سوم د ترینګلو دخیالو څه

چي مي چورت یووړموجونودڅپوپه کناروکي

اند یښنومي راڅه یووړله خیالونه اوفکرونه

سرمي پورته کی چي ناست یمه لیري هیوادو کي

دادرینن درودغاړه زه ئې وینم دسولي په موجوکي

بیا مي شاه او مخ کتله نراو ښځي لمبید له لڅي پڅي

پوهیږ.مازما دفکرلیري تماشه ده زمادفکرپه موجوکي

یا خوزه په خوب بیده یم یا جنت ته یم راغلی په فکروکي

نه هم زه په خوب بیده وم زه ژوندی وم مړهم نه وم

اروپاه ده دائې کاردي هريوخوند اخلي ازاددي په فکروکي
نې مذهب خپل سرته خلاص دی نې ملا آزادخپل کړوکي
دايوه زه په کښي حيران وم زه هم دوی ته په فکرو کښي
ماخو مينه ورکه کړې دوی خوشحال وه په کورو کښي

**افغانستان**

دا دوطن خپل محبت دی نوم ئې وړی دعزت دی
زموږ.هم مينه محبت دی عجب شان اوشوکت دی
دعزت نوم ئې پرجهان پرې به نه نږد و دښمنان
خپل به ساتودغه دښت،بيابان چي لري لاله ګلان

**مينه عقل نه غواړي احساس ده**

زړه چي ليونی سي بې اختياره سوداکاندي
احساس ئې سي ملګری عقل ووزي د ميدانه
ليونتوب اواحساس دواړه پريوه کوڅه روان دي
لوږه تنده ورته هيڅ وي سرکښي دزړه څه غواړي
دخپل عقله مرورسی له رواجه څه ځان باسی
په اورونو کښي لمبيږي دليلا څه عزرغواړي
معجزه دعاشقانو د پتنګ په اورسوځل دي
شمعه هسي ورته ژاړي د پتنګ څه عقل غواړي
هره مينه چي رښتياوي دمجنون رسوائې غواړي

دنړۍ پروا خو نه کړي دخپل ځان پروانه غواړي

دپاخه عاشق دا کاردی چي دځان په قیمت عشق کړي

یاهم ګرځي سودائي سي یا خمارپربیبان ګرځي

سپین ږیرتوب

سترګې ننوزی هغه غټې سترکي ئې مړۍ سي

بریت چی ئې سي سپین ږیره پریږدي له رواجه

پرغوږو ئې بڼې راسي دسرتورورېښته ئې سپن سي

زړه ئې ډ ک سي له ارمانه چي وښکلوتې نظرسي

دادعمرقافیله ئې سي رابیله ځوان ودته رهنما سي

مخ ئې ګونجي سي ترغاړي ائینه بدورته ښکاري

دټوخي په رنځ اخته سي هرګړۍ کړي غاړي صافي

دزګیروي اودردله غمه داخ،اخ نارې ترخوله راباسي

ها ښکلا چی ئې وي تللې ټوله وخت هنداره باسي

**ښه نیت او ښه روزنه**

غټان،غټان لویان ،لویان زیږوي

کوچني ته ګوره چي کوچنیان زیږوی

اصل هغه دی چي انسا ن زیږوي

هرملک په مینه محبت آبا د دی

هم دد وستی په دې صفت آباد دی

یا دبزګرو،کارګروپه همت ابادده

هرڅوک صالح یوښه اولاد زیږوي

ځیني وه ملک ته دښمنان زیږوي

مد رسې جوړي طالبان زیږوي

ځیني اخته دي داجهان جوړوي

انسان دډیروصفتو څه ډ ک دی

هم دزحمت وتکلیفو ته کلک دی

هم ده رنځوروجوړیدوته کلک دی

حیوان،حیوان انسان انسان زیږوي

هر یوخپل نسل ته بقآ وربخښي

هم ومریخ ته را کیټان ورلیږي

هم په خپل فکرداجهان جوړوي

هم په خپل فکر لوی ماتم اچوي

هم پرجا پا ن باندي اټم اچوي

هریوانسان چي بل انسان جوړوي

هغه بشر او ټول جهان جوړوي

که دانسان وما دي ژوند ته مخ سو

دبل په مرګ به بیا خپل ځان جوړوي

چي نیت ئې ښه وي هغه حیرص نه لري

عد ل انصاف کي ظلم چليش نه لري

چي پر توزيع حق وحقدارته راسي

په سوسياليزم کي خان ځای نه لري

**کربلا**

ماته فريا د د کربلا مه کوه

ماخپل هيوادکي کربلا ليدلې

وهرطرف ته جنازې تيريږي

دشهيد مور مي په ژړا ليد لې

ددرد ماتم چيغي مي زړه خوږوي

زما وهيوادته داڅپه دکربلاراغلې

پرکلي کور باندی ماتم راغلی

ودغه ښا ر ته يو بلا راغلې

زمريان په خپلوکي اخته په جنګو

ما دځنګله مشر چيغال ليد لی

داتم بم نښان پرموږ لګيږي

غريب ولس ئې په نښان ورکړی

دښمن په خپلوکي څرګند عمل کړي

زموږ دوژلو ئې فرمان را وړی

دمورپه نس کی چي ماشوم راوژني

هغه قاتل بیا پردې لاررا غلی

بیعقل خردی په باغچه ګډ سوی

اصلي ملک ئې په ژړاراغلی

دتورماتم چغې دمیند و اورم

خیال می بیا دادی یزید بیاراغلی

نن چې فرمان دمسجد و څه وزي

عقل به خود د د روازو څه وزي

**یادونه ار مانونه**

ستا دي هم وي یاد په خیر

زما دي هم وي یا د په خیر

دغه شپه دخوشحالی ده چی تیریږي

هرګړی ئې قیمتي دی نه تمیږي

دم په دم وختونه تیرسوه شپه پخه سوه

دخوښۍ لحظې دخوب خوندي تیریوي

زما دي هم سي شپه په خیر

ستا دی هم سي شپه په خیر

دغه شپه دي خاطره سي ما اوتاته

دغه شپه دي یارانه سي مااوتا

اوس دشپې غوټۍ موګل سوه په رڼا کې

اوس دشپې یادونه پاته دي سبا کې

ستا دي هم وی یادپه خیر

زما دي هم وي یاد په خیر

دفلک چارو ته ګورمه شکمند سم

که دمیني وصال راسي تالې من سم

ستادي وي دا یاد په خیر

زمادي هم وی یاد په خبر

که مرام ته دخپل هوډ رسیدل غواړي

نودځان به قتلول ځانته رواکړي

**دپسرلي ننداره**

بلبل چي آوازپورته کی په باغ کې ننداره سي

میلې ته چي ځوانان ځي مړاوي زړونه په تازه سي

شور، شورچي داوبووي شاه وخواته تما شه سي

یاران سره راټول سي پرباغو جوړه میله سي

نسیم کړي چپ ږغونه چي وږمه ئې سی ملګرې

عندلیف دخیال راغلی په فضأ کښي ازانګه سي

نری، نری باران وي مځکی ټوله ورته خاندي

دغره لمن ګلان سي مځکه ټوله تکه شینه سي

خماررندان ماړه سي پیالې ټوله تکي سرې سي

ساقي دوطن خاندي خماره تنده ئې مړې سي
دښت بيبان غزل سي د مطريب جوړه نغمه سي
ويالې ډکي داوبوسي هرطرف ته ئې ميله سي
پيغلي ځغلي ګډ روته ځوانان هم په تماشه سي
پسرلی داسي موسم دی دښکلا ډکه ننداره سي
هره ونه سي سمسوره هره درخته شګوفه سي
هرساه داربه را بيدارسي داد ژوند يو زمانه سي
په ږغونودطوطيانومړاوي زړونه به تازه سي
ژمی تيرسوکړکی خلاصي ښه هوابه راايله سي
دکورهرکونج سي روښانه باغچې بيا تروتازه سي
بخاری نلان به باسوصند لی تيلتک به ټول سي
نوربه نوي سخت يخونه تورسکارهم په ايسته سي
کوربه بيا پاک اوصفاسي هره خونه به ښايسته سي
طبعت دټولو غواړي لاس مويوکړی دکاروخت دی
دښکلا دغه موسم دی ستا په زيارېه نورښايسته سي
پرافغان نسل چی تيرسوه هغه هيرسوه دابه تجريبه سي
خپل دوخت تجريبه ياد کړی چي هيوادموپه ښايسته سي
دننګيال بڅرکي وروستی وړانديزهم دادی پوهه زده کړی
داجنګونه په تاريخ کي نويشته کی داپه نوی نسل زده کړی

## دافغان پسرلی

دپسرلي نغمه را والوته خو! اور پر برابرسؤ
آرام زړونه یې کبا ب کړه پرسوزپربرابرسؤ
دغیرت حماسې ولاړې،افغانی فرخنده سوځې
سوي چیغي وې دعجز،دغم لورپربرابرسؤ
دځوانانوهوسونه پرجهان دي،دلته سوځي هنرونه
دادعشق خوږه دنیا ده خو! پرموږ. توررابرابرسؤ
زموږ.پیغلاني چی ژوندئ په اورکی سوځي
پر هیوادمو دافراط دغسی اوررابرابرسو
افغانی غیرت خوولاړی دافراط پرکوڅوتښتي
نوی،نوی سو پیغورنن دښځودا پیغوررابرابرسؤ
پسرلی ګډ سو په وینوچي دوینوبوی یې خپورکی
یابه ټول کي سفاک فکر یا پرسوراوروربرابرسؤ
پسرلی! موږ.به ستا مځکي په ګلود رکرلای!
خوپرموږ.دغسي زورنن دپردو را برابرسؤ
دهیواد قانون ئې مات کی دفتحوالاستی یې خپل کی
دادعقل کیسه ولاړه دعربودغه زوررابرابرسؤ
ای ! افغانه ستادننګ اودناموس خبری څه سوې؟
ای! پښتونه ! ستادښځودعزت خبري څه سوې؟
چي دي نن داستا په مخ کي ګرانه خورسوځي په اورکي
ځکه موږ. ته د سبا یو ستر پیغور را برابر سؤ
چي خپل مال یې جاروی سراو ناموس ته!
ها! دسراودناموس پرنقل بیا توفاني زوررابرابرسؤ
دننګیال بڅرکي سوز او فریاد دواړه
چي پر زړه مې دفرهار داسي ټکوررا برابرسؤ

## تاریخ څه وائي

د تاریخ اوږده کیسه ده نوې نه ده خو زړه ده

دنیکه اودبابا څه پاته دغه افسانه ده خوتازه ده

داتاریخ په وینو سوردی دوجودوینه مو سره ده

هره ورځ توره په لاس کښي هره شپه دایلداشپه ده

هرساعت یوه بهانه ده ، شپه اوورځ راته یوه ده

ټول تاریخ موپرمیدان سودانګړه لیري شپه ده

دښمنان را ته یوسوي ګوره څنګه دا کیسه ده

غلتي ئې نه پوهیږم دتخنیک دا زمانه ده

یابه زموږداکمزوري وي یاددوی پرموږحمله ده

پیو ستون ټوټې ، ټوټې سوهر ګروپ یوه حلقه ده

ساقي خپل په عیش اخته دی پررندانو دغه شپه ده

ساقي خپل شراب پردي دي میخانه په اختیار نه ده

چي پردي را بلل سوي،جام پیاله په اختیار نه ده

دپروند انګړخړپړؤدهغه څه مواخیستې ښه مزه ده

ساقي خپل وا ک خپل شراب موخپل،پیمانه خپله

دادژوند دخاطرو څه تیره سوې خا طره ده

نن چی هرڅه موپردي دي هرڅه سته خوشحالي نه سته

دپردیود سیسوکي دساقي اودرندانوتلې،تلې یارانه ده

دتاريخ څه به دازده کړوځان به په کار پوه کړو

خپل شراب به دلته جوړکړوداولس به په دې موړکړو

هره شپه مو بده شپه ده هرشپه به دغه خوب کړو

تاريخ وائي زما څې زده کړی که ځانونه په دې پوه کړو

**دکندهار پسرلی**

کندهارځای دی دانارو،دشینوویالواوابشارانو

دلته مستي دښو ځوانانو،کندهار ځای دی دانارو

دلته میرانه اوغیرت چلیږي،دښوځوانانوئې عزت چلیږي

هریوموسم ئې پرچاه ښه لګیږي،دغه ګلان ئې ښایسته ځلیږي

دلته پراته ډیرطبعت پارکونه،دادخروښه سیلابي رودونه

باندي سمسوردي دي دغه ټول باغونه

دهرچاه ښه ایسي داجګ دغروسرونه

دلته تاریخ دګندهارا یادیږي،دمند یګک تمدن بیا یادیږي

وروسته ترهغه کندهاریادیږي

چي په نامه دمیرویس خان اواحمدشاه یادیږي

دلته ګرګین خپل سرخوړلی دی،دلته مغلونوم بایللی دی

تراصفهانه اوډهلي پورې نوم تللی دی

دوی په همت اومحبت دغه هیوادټوله ساتلی دی

کندهارځای دی دانارواوګلانو،دښوراو ږوک څخه ډک دبلبلانو

دغرو د سرد شاهينا نو او بازانو

هرباغ ئې ډک دی دانګورودسايبيانو

کندهار ځای دی داناروا‌و ګلانو

**دزاړه اونوي فکري خيال**

سپينه نجلۍ وه توروريښتان ئې وه ژړکړي

سپين لاسونه ښکلي ګوتې دنوکانوئې سره کړي

انا تل ور ته کتله په حيرت حيرت حيرانه

دلمسۍ کاروته ګوري وله ډيره سرګرادانه

يوه ورځ ئې لمسۍ زوړپټلون ؤڅيرکړی

نجلۍ خوښه ښيري، ښيرې اغو ستلی

سپين ورنونه ئې ښکاره وه تر پټلون

اناکله پوهيده په دې مضمون

بله ورځ چي ئې پټلون کټ سوی ځړيد لی

انا څوځله وکتلی سمدلاسه ئې هم هلته وګنډ لی

انا ډيره سوه خوشحاله چي پټلون خومي ورجوړکی

خبر نه وه چي لوی غم مې پرکور جوړ کی

نجلۍ کړۍ ورځ په ژړا اوواويلا سوه

دبل پټلون په رانيواوپيسو په تمنا سوه

انا ولاړه وبازارته بل پټلو ئې رانيولی

الماریٔ کښې هم هغسې په پیشن وځړولی

نجلۍ نورپه غوټه سوه،داناپه ننداره سوه

په دې کورکښې دانا اودلمسۍ بده کیسه سوه

لمسۍ اناته به ویله اناجانې دغه موډ دی

داوختې نه دی چې چوټې دې شاته خپوردی

موږ خو غواړو چې مسکن او خان مویوسې

په لباس کې یودبله برابر سې

انا ږغ کی چې لمسۍ خاورې دې دا موډ سه

پټلون مو ځیرکړی پرچپه خره باندې سپورسه

انا تل نجلی ښارله ایندہ ئې نه لیدله

انا خپل په خیال کی وله،دنجلی زمانه بله

دواړو یوبل نه منله، هریوخپل پرخیال به تلله

یوه ورځ ئې انا بازار ته وه را غلې

په رنګه پینکوئې کښونه ډ که کړې

ونجلی ته ئې کړه وړاندې

داسوغات مې دی را وړی

ته ئې کښیږده چې داښکلې دی عجبه

ښه خو ایسې او حیرانه به سې خپله

**امریکا تا ته وایم**

دنړۍ دلوی بمونو مورئې

دجنګونواوفساددا چولومورئې

ته دزمان دوحشتونومور ئې

ته دطالب ، مجاهدینو مورئې

القاعده اوداعیش هم له تا پیدادي

ته د فسا د د لوی بحرونومورئې

زموږ په هیوادکښې تا لوی شرواچوی

ته ده عربواوعجمودبرابدولومورئې

تا افریقا او اسیا ورانه کړه

ته دجهان دفسا دونومورئې

نړۍ له تا څه ده بیزاره

خو ته پر ټولو زور ئې

پروادي نه سته که جنګونه کیږي

پر فلسطین یا پرعربو کیږي

غټ جنګ روان دی دافغان پرښارو

داوکراین او دعراق پرکورو

کله وموږ ته طالبان را ولې

کله ایران ته اخوندان را ولې

ټول فساد ستا دی فسادونه کيږي

چي پردنيال دغه جنګونه کيږي

## غزل

ستا دحسن په لمبو کښي چي سوځيږم

لکه شمعه په شيبو کي ئې ويليږم

دوصال ګل مي پيدا نه کړی وځانته

پروانه يم په باغچو کښي چي کړيږم

ووصال تې رسيدل اسان کار نه دی

لکه شمع غوندي پټ ، پټ ورته ژړيږم

هريو عشق او محبت قرباني غواړي

دفرهاد غوندي دژوند څه به تيريږم

چي تاوان اورسوائي هم په کښی نه وي

نو هيڅ کله دې معراج ته نه رسيږم

دادعشق اومحبت دردونه سخت دي

د پتنګ غوندی پراوربه کبا ب يږم

که غوټۍ غونچه،غونچه سي وبلبل ته

نوبلبل غوندي وګل ته به ژړيږم

که ته پام نيولای نه سي زما وحال ته

ستا دحسن په لمبوکي به سوځيږم

لکه شمع په شیبو کښي چی ویلیږم
هم بورا غوندي پراوربه را کړیږم
زه ننګیال بڅرکی یودم چي لګیږم
بیرته ګرځم په لمبوکې ښکارکیږم

**لوی اختر کال ۲۰۲۱دجولای دمیاشتي ۲۰**

**داوسني لوی اختر دپاره یو مثنوي شعر**

اختره را سه د معمول سره
دخپل وخت اودسمون سره
خونن ته هم څه غمجن ئې
زما په شاني غم ابتر ئې
دقیامت نخښي ښکاره دي
افغانان په جنګ اخته دي
دهیواد مورکی ژړیږي
زړه ئې نرم دی ویلیږي
یو ئې زوی په وینوسوردی
بل پر کورباندې ناسوردی
په انګړ کښي کربلا ده
پرهـــرخوا لــویه اوبا ده
دروغبړخبري پا ته

کرونا نا سته هرخوا ته

دوست ددوست وکورته نه ځي

کرونا هر خوا ته ګرځي

اختره زموږ شکایت یوسه

داجنګیان هم درسره بوزه

نوبه موږبیا خوشحالۍ کړو

په اختربې هوسۍ کړو

دعیده ګاه پرخوا به درومو

د خیرات د وعا به مو مو

دکالوبه موبوږ ، بوږ وي

دبوټو به موګړ ، ګړ وي

دوړو به موناريې وي

سرپرسربه نازنخرې وي

دنکرزودودبه بیرته راژوندی کړو

په سوغات به هم خوشحاله هرکوچنی کړو

بس اختر دي دومره وکړي

زموږ ترمنځ دي روغه وکړي

زما ننګیال دخوشحالۍ اخترهغه وي

پر هیواد چي می جنګ نه وي

**داشغال کړنه**

زموږ وکورته نا بللی میلمانه راغلي دي
دکورسرته دي روان په مسخره راغلی دي
سپین مخونه شینې ئې سترګي سره بریتونه
په زورکه راتلای نه سوای نوپه چم راغلي دي
بهانه که ئې جوړتیاده خوپه نیت کښي ئې غلاده
ددروازي پر خوا را نه غله پر تیغه را غلي دي
ددې کورکنډ وکپرخو بې حسا به معلومیږی
دجوړتیاامید مونه سته دوی په جنګ راغلی دي
دکومک نارې سورې کړی خودیوال جوړوای نسي
ها! لرغوني توکې یووړل په بل رنګ راغلي دي
تش خبري را ته کاندي په عمل کښې هیڅ هم نسته
ددې کوراحوال ئې ټول کړی په نیرنګ راغلي دي
دادیوال جوړوای نه سي یوبل غل ګرځوای نه سي
انسانان ئې سم تباه کړه په نامه دبشرمل راغلي دي
مجاهد ئې هم بدنام کی دشمال څه په دارنګ راغلي
غلت پرغلت وائي غلت ګوروچي په چم راغلي دي
دانړۍ په حرکت کي هره لحظه نوي ، نوي دي خبري
دغه وخت خوددې نه دی نړیوال ګوره په جنګ راغلي دي

نږۍ خو،ولاړه تر آسمانه ځانته ځای لټوي

ولس دغفلت په خوب بیده دی دغه خیال لټوي

یا ومهدي اخیرزمان ته ورځي شپې حسابي

په تن لڅ په نس وږی ځانته عقباء لټوي

ایمان هغه چي ئې هیواد نه وی دبل محتاجه

کچکول په لاس دښمن ته وایو راکوه خیراته

نږۍ ته ګوره ښځه اونرئې ترمریخه ولاړه

ملاته ګوره چي دښځوپه لیدوایمان خطا لټوي

هرمسلمان هیواد احتیاج دی وکفري ملکو ته

موږ لاس نیولی د دښمن وهغه سرو بریتو ته

ته دغه سیل دهجرت ددې دنیا دمسلمان وګوره

تې دمرګونو سلسلې بیاترایران یا تریونان وکوره

هم مو پرملک او هم بهردافغان شان وګوره

داسي بلا ئې را نازله کړه چي خالي سي هیواد

هرڅه ئې وکړه په خپل فکرچي افغان سي برباد

دوخت ملا ئې سوملګری چي پاکستان روزلی

غلت پرغلت وائي په دستوردی دپنجاب راغلی

ننګیال دملک څه سوم فرارچي ملا جان راغلی

**ملا تا لید لی نه دی**

ای دخوراو ګرانی مورد محبت څخه مهرومه
دخنداوخوشحالئ په وخت ترینګلې اوغم جنه
تاته چاه ویل چي دنجونو ښوونځی بنده کړه
دعلم ومعرفت دلاري د روازه ګی ماته کړه

*

دجهانه بې خبره ، ته دعلمه مروره ، بې اثره
دخپل کوره تښتیدلې په حجره کي رالوی سوې
تادعلم دروازه ګئ ماته کړه،دکم ځایه ئې راغلی
اوس په زورد پرنګیانوئې راغلی چاوې عسکرکړی

*

ددولت پرګډئ ناست ئې په نړئ کی شرمید لې
دانړئ ده مخ پروړاندي د رومي هر لحظه کې
تاپه خپل خیال کي د جنت دروازه ګی ماته کړه
تادعلم یوکړئ ماته کړه،رب دی ککرئ ماته کړه

*

په جهان کي تجرید سوی نه شرمیږي په حجره کې
ښځي نرنن په لاس په لاس ځي ترآسمانه ترمریخه
د ملا فکرته ګوره هرڅه ویني دادښځو په بغره کې

تا په خپله دجنت لاره کړه شاه ته په ایله،ایله کې

*

تا وځان ته کړه روا بل ته دي ګرانه

پربل چاه دي پیرزو نه ده بې ایمانه

بې ایمانه تا هیواد کړلی محتاج په دغه شانه

هم مجبوره هم بې واکه بې سترخانه

*

په تن لخ کچکول په لاس کي سرګردان ګرځي

هم پردنیا هم پرهیواد پر دښت بیابان ګرځي

ته دوحشت په فلسفوکښي ثوابونه غواړې

ته وخپل خانته دپاریس ښکلی کورونه غواړې

*

ته دخپل خورپلو ته ګوره چي ځان سیال غواړي

هم پر نړۍ ښکلی نوم شوکت اوشان غواړي

ستادازوړفکرنه چلیږي خلک کار غواړي

هم تمد ن اوپرمختګ ته ځان عیارغواړي

*

دننګیال فکرخپل بخرکي لګوله د رڼا د پاره

اوس ورته ګوره په تیاروکښي خپله لارغواړي

**«داختریزانځور»**

اختر هلته ښه اختردی چي لیلا لاسونه سره کي
دځوانانو شورماشوروي په ماښام هګۍ پخه کي
بریښیدلي بریتور ځوانان را وزی دخپل کوره
بیله وحمه راروان وي دیوکورڅه تربل کوره
پرهیواد چي خوښي نه وي اختربه هلته نه وي
چي د ژوند حق دآزادۍ نه وي، ښادي نه وي
چي د لباس اختیارد بل وي،غمونه هلته تل وي
هلته ژوند او خوښي نه وي،چي آزادفکردي نه وي
څوک چي وزي دخپل کوره،پریشانه ئې وي ټوله
مورپه زوی پسې پریشانه هم په پلارپسې دا شانه
خوشحالي به هیڅ رانه سي،چي آزادموفکرنه سي
اخترنسته نه اختردلته راغلی جنګ موخپله رابللی
په هیوادکي چي تبعض وي،ښځه تل دنرکنیځ وي
راهبران ئې هم مریض وي،پرولس ئې دا تاثیروي
دامرض خوډیرباریزدی پرهیواد ئې لوی تا ثیردی
چي دعلم ډیوه مړه وي،ومنزل ته به لار نه وي
نواختربه هلته څه وي،نه به خوند پراه کا له وي
داخلویشت کاله خوتیرسوه اخترونه را څه هیرسوه

نوی نسل نه پوهیږي ،چي اخترپه څه شان کیږي
د بڅرکي څه اختردی چی په ملک کې هم دبل دی
خپل په ملک کي موږپردي یونودچاه څه به شاکي یو

هالینډ:فینندال بنار

نیټه ۲ ــ ۵ ــ ۲۰۲۲م کال

ننګیالی بڅرکی

**طالب ته !**

ژړورقي دي چاه د رقلم خوره کړي دي؟
یاخودي ژړورقي ناسمي شانته لوستي دي
عقد ت دي ګډوډدی طالب جانه نه پوهیږې
یادي هم ماغزه یوچاه درالیش کړی دي

***

د ملي فکر احساس د ر په کبني نه سته
داسلامه څخه دي خلک لیري کړي دي
دلته دپخوا لا په تاریخ کي کفرکله وو؟
ستا په دغه کړنه دي ټول خلک بیرولي دي

***

یادي ژړورقي دي زړې نوي کول غواړي
یادي ودې بدوته په قصد لیځي رانغښتي دي

وامي وره خبره کنه سخت به بيا پښيمانه سې

يادي وپردوته دخدمت ليڅي را نغښتي دي

***

ټول نړۍ پر تا باندي هم ټوکی هم خندا کوي

تاته دنړۍ ټول دروازې اوس بندي سوي دي

هغه هيوادونه چي له تاسره په ګډه يوارمان لري

هغه هم ستا په دې کړنوڅه ډارسوي بيريد لي دي

***

داعصردمريخ دی خو ته په دې کي څه غواړې؟

تا پرخپلوخوندودادپوهي د روازې ګوره تړلي دي

دانړۍ خوستاسره دلاري منزل او تکل نه لري

ستا سکون تياره کي افغانان کمزوره سوي دي

ننګيالی بڅرکی

هاليند فينندال :نيټه ۲۳ ــ ۵ ــ ۲۰۲۲م کال.

**دين دسياسي ګټودپاره استعمالول**

څومره تجارت دی پر نامه د محمد

دادين پرسرسوداده خوپه نوم دمحمد

څوک بندی کي څوک وژني پرنامه دمحمد

قاتل وائي کلمه دمحمد مقتول وائي کلمه دمحمد

***

یو اسلام دی خو فتواوي ئې دي ډیري

هیڅوک نه ځي بیا پرهغه کړه د محمد

مسلمان به داسلام په نوم قتلیږي وژل کیږي

لاره ورکه ده له ما اوهم له تا پردغه پله دمحمد

***

داد ښځوپه موضوع کي فتواوي خورا ډیري

خوکه چین کي درس روادی دا فتوا دمحمد

دادهر زاهد وخیال ته چي موږ ګورو

ورسره دګټوخیال دی پرخلاف د محمد

***

دملا صاحب شیطان ترهرچاه شوخ دی

دا چي ځان ساتلای نه سي نې ایمان پرمحمد

که کتل دښکلومخته ناروا وي یا رواوي

نوبه څوک په پټوسترګوکړی نکاح دمحمد

***

دهیواد اقتصادي ګټي بیله ښځو ناممکن دي

په پټ مخ کله چلیږي دا کاروان دمحمد

وائي نیم دي مخ ښکاره کي په حجاب کي

دوی نه سره جوړیږي پر یوه لار د محمد

***

بیله ښځو داد نیا ده هم نیمګړې هم بې واکه

موږخو وکړه دا وینا هم په دغه شان د محمد

**پاک احساس**

په هغه سر کي چې د ماغ نه وي
لکه میخانه کي چی شراب نه وي
نو بیا نوم ورته عیب دی د سړي
میخانه به هیڅ وخت نه وي بې ساقي
په هغه سینه کي چي شراب نه وي
په خالی سینه کې هیڅ توان نه وي
مینا خالي ساغرکې توان نه وي
میخانه ورانه رندان پرحال نه وي
ایمان نه وي ، دزړه اندازنه وي
مستی نوی ساقي هــوښیارنه وي
په عقل پوه به نوي یوبه کرارنوي
پیمانه جام به نوي قهقه خندابه نوي
هلته ښکلا به نوي ښکلې فضاء به نوي
هغه احساس به نوي،یاران بیداربه نوي
نوی احساس به نوي دښکلونازبه نوي
دوخت پیغام چي نوي پاخه ساقیان به نوي
نوی حالت به راځي،یو بل ساقي به راځي
اوچت احساس به راځي،نوی بیان به راځي
ملا به خپل کارته ځي داسي زمان به راځي
که ملاکارپرېښودی،سیاسي توفان به راځي
اخوند چي هلته نوي، دمسجد خوندبه نوي
ږغ درباب چي نه وي،مطرب پرحال به نوي
شرنګی دجام چي نه وي مست داجهان به نوي

ژوند په مستي کي ښه وي،په موسيقي کي ښه وي
خلوت چي نوي هلته ، چپتیا به نوي هلته
دژوند شيبې تيريږي تاته بيا نه دريږي
دغه لحظې تيري کړی ډيري ئې ښې تيري کړی
محراب مې هم خوښيږي چي ملاً ښه رزميږي
هروخت حاضروي پرځای طالب ئې څنګ ته ولاړ
ټول ميخانې ښادی وي،د ښارکوڅې ښادي وي
ويره اوبيره نه وي،فساد نارې به نه وي
بځرکی اوردی اوربې پروا دی،که مي تن سوځي
هغه څه وايم رښا به کړمه تا وان هم زما دی

**نامعلومه برخ ليک**

خلکوداسوال درڅه کومه ځواب بې سم راکوې

داداورونو سلسلې دي هيوادمو خپل په سوځې

نن چي معلم اومکتب سوځي دوی نه پيژنې؟

سړک اوپل چي ئې درواران کئ څوک ګرموې

هغه چي وائي زه پښتويم ذهن دعربو پالې

ودې هيوادته دمذهب په نوم افتونه راوړي

دغه يوسوال دی راته پاته ځواب بې سم راکوي

ځيله افغان دی خو! چي ځان افغان نه بولي

داد پرديو تالي څټي انسانان څوک دي ؟

چي ئې وښکارته کړل تياردا ظلمان څوک دي

پوښتنه داده داهيواد ولي نا ورين ته ولاړی؟

داخوآزاد افغانستان ؤ، نن تا ترين ته ولاړی؟
ځواب بې داوی چی دااوس افغانستان کله دی
هاچي هنرپه کښي محکوم داموهيواد کله دی
دلته په زوره ځراغونه دلاسووڅه اخلي
دتوروشپوپه تاريکوکي مو فکرونه اخلي
هم مو تعيلم اوتربيه پوهنتونوڅه اخلي
داچي دښځودحقوقو سجيلونه سوځي
جنسي توپيربه دې هيوادته غټ ناورين راولي
دغه سوال ما هم د ملا څخه بيا ولی وکړی
تاچي دسولي اياتونه اورول راکيټ چيري زده کړی
ځواب ئې دادی چي داخلک دبهر څه راغله
دادسوربريتوپه پيسود پيښوريا د چمن څه راغله
تا دپنجاب سره وحدت پرکومو تړووکی
بيا دي يوواری دستنګر پر نازولو وکی
ستا افتخار ټوله ددې سو چي جهاددي کوی
تاپه جهاد باندي هم ځان اوهم هيوادبربادکی
دغه يو سوال درڅه کومه ځواب بې سم را کوی
په ورانولونړولواوژلو دي زړه نه خوړې دی؟
که دي وجدان دشرافت وای هغه نه لړزيدی

بس که ننګيال دغه سوا ل به بيا تاريخ ته پريږدو
که هيواد جوړ سووقانون اويا قاضي ته پريږدو

**«کابل بيا په وينو سورسۀ»**

دشفق سرووړانګورنګ اخيستی دکابله
دځوانانوقتل عام دی ځکه وژني يوله بله
هرقاتل ځان قومندان کړي په قتلونو
هرواکمن مومعتبرسوپه وژنوفسادونو
دقاتلومد رسې دي په زرها وپه لکونو
ځکه نوي بچيان زيږي روزل کيږي پرکمپونو
دادهر قاتل وختونه دزمان سره بيليږي
دادنسل ورکولوسلسله ده چي رژيږي
که د خضرعمر ډ يروي لابه واوري
دادوخت لو افسانه ده نه ورکيږي
زموږ پرخاوره ددښمن ناخوالي وينو
دلته سرې ويالې بهيږي د د ې وينو
نن کابل په وينوسوردی دپيغلانواوځوانانو
نن موخپلي ميندی ناستي په ژړاګريوان شکولو
نن د د ين ټيکداران مودادپوهي څراغ وژني
نړۍ ټول په تماشه ده ورته ګوري دوی مووژني

هم دښمن دی هم قاتل دی هم موساتي
داعجبه تماشه ده چي موږ ټوله خطا باسي
زه ننګيال بځرکی به ګيله کړم ديونوځه
ګيله نه کړم دوا کداروملايانوتوروزړوځه

۳۰ ــ ۹ ــ ۲۰۲۲م کال هاليند فيننندال

**هيواد**

ځنګه درسمه هيواده ستا به ځنګه کړم پرسان
نه قانون دي مد ني دی نه قانون دي داسلام
نن پردي زاهدان ناست دي ولس ټول ورته حيران
هره خوا توره تياره ده لاره ورکه دغه دا شان
متصب حق پک حيران دی چي دچاوکړی بيان
دپردي ملاوشاته زه ځه خواست کړم دايمان
نن زاهد را ته بدل دی په تورمخ دخپله ځان
ملامست په حلواموړسؤدښکلا رنګونه پاشي پرميدان
ځنګ پرځنګ دحوروخيال دی خطا کړی ئې ايمان
مينه ټول په اورکې سوځي دچاه نه مني فرمان
دعرفان ځراغ هم وژني په هرتېک په هرنښان
بلبلان ئې ټول فرار کړه دهر باغ اوهربو ستان
دتور مخو پا چهي ده اوس راغلي دي کارګان

زمادکورئې ورتړلی دی دعلم پرمیدان

نن د ظلم سالاري ده دتورسروپرجهان

نن ساقي را ته بدل دی په بل رنګ او بل ایمان

دپیالو ګړنجی ئې کم دی نه پوهیږی په حساب

میخانه هم ړنګه سوې خوند ترې اخلي ذاهدان

آزادفکرپه کښي نسته خواست کووبه دایمان

زماننګیاله هیوادپاته بس کوم به داآرمان

دپردوملاکه خلاص سوم بیابه سمه په امان

**خوب**

یوه شپه می تیره شپه کښي خوب لیده

ورته ناست وم دهیواد کنډ وکفرجاروکیده

په خوب کي اتڼونه خوشحالۍ مې هم پیاددي

دادجنګ خبري نه وې نوی سازهم ږغیده

زوړ سا قي وتښتید لی نوی نه معلومیده

ورځ تربلي نوي،نوي وې خبري چي کیده

توري،توري سوې وریځي باران نه معلومیده

هره ورځ تربلي ورځي تاریکي څرګند یده

چي راکښینسم له خوبه شوراوږوګ می اوریده

په هیواد کي یوبل شورووښوونځی تړل کیده

دعرفان څراغ روښانه ملا هم هغه واژه

دادښځوپرغورځنګ وه بندښتونه لګیده

هر یوخپل په علم ګرم ؤ طالبانوچي لیده

جنګ دجهل اودپوهي جهل سم حمایه کیده

دعرفان څراغ ئې مړکړی جنجالونه ډیریده

نوي ،نوي وې خبري دحجاب پر سلیقه

هرطرف طالب ولاړوخپل دظلم پرکوڅه

دعرفان دروازې بندی د ملاء پرطریقه

هرفرمان کي ئې وښځوته دامونه کښیښوده

څوک ئې بند کړه دسفره چي دکوره مه وزه

څوک ئې بند کړه له مکتبه چي تعلم ته مه ورځه

څوک ئې پټ کړه په بغره کښي چي مخ مه ښکاره کوه

څوک ئې ووهل په لښتوچي حجاب ئې نه کا وه

دادښکلو،ښکلو اوښکی مرغلري توئیده

چي د ژونده سوې محرومي په ژړابه ګرځیده

داسلام په نوم ئې واچول لمبې اوسره اورونه

دایوداسي طریقه وه چي اسلا م په بد نامې ده

زمادخوب په دې تعبیرکښي حقیقت څرګندیده

چي هیواد موداسي اوسي لکه ګل چي رژیده

هري خواته ولس مړۀ،خو نفس ئې لا ژوندی ۀ

په کرار،کراربه تلله دطالبه بیریده

ورته ناست وم دهیواد کنډ وکپړجا روکیده

دسازونوشورخاموشه دهنرد منځه تله

دننګیالی بخرکي فکرپرخوبوراګرځیده

**ملا ئې نه مني**

ما درتکل خو ومخ ته مي نا صیح ولاړ ۀ

خپله محرومه خووماته سترګي سرې ولاړۀ

زه په خبروم انتظارکول ترهرڅه سخت دی

په پښه ترلی ۀ بیعقل خونژدې ولاړوو

دی راخبرۀچي دښکلوننداروته ورځم

دادحسینودګلشن ښکلو با غوته ورځم

دمحبت اومیني اوردی چی انګارجوړوي

نن که ولاړدی ملاجان بیا میخانوته ځمه

دادبدبختو مدرسو کښي خوځوانی کله سته

خبرې ټوله دقرنودي ځوان ځواني کله سته

دملا مغذ دی جوړسوی دشیطان پر قیصو

یا خو ږغیږی د د وږخ اویا جنت پرنقلو

هیڅ کله فکر د نوښت دپرمختګ نه لري

نوي کتاب اونوي فکر کښې عدت نه لري

چې ئې زده کړي دزمان سره چلښت نه لري

ملا په فکر کښي خوځښت نه لري

نورودد ین څه سیاست لیري کړی

هم ئې پټ رازد طبعت لیري کړی

اوس په دې فکرچې آسمان تسخيرکړي

لمراوسپوږمۍ شمسي نظام تسخيرکړي

ملا ته ګوره چی جهان نه مني

پرد ې د نیا کاردانسان نه مني

د مجنون مینه پر لیلا نه مني

په خیال کي ډ ک جام د خیام نه مني

هر څه کوي ځیني ښکاره ځيني په پټه کوي

په داخپل خیال او فلسفو کي دبل خیال نه مني

خوند د شرابوئې څکلی خپله

خوپه ریا کې بیاهم دانه مني

واعظ دشرابو اود حوروکوي

خوند ئې لیدلی دلتې بیا نه مني

خوند ونه اخلي دتخنیک له کاره

خو په خپل عقل سره دا مني

**راز**

زه اوته وای دګلانو یو باغچه وای

بل څوک نه وای دښکلا یو ننداره وای

دغمونو څخه لیري دسولي زمانه وای

دغمو څه خبرنه وای دبلبلوترانه وای

دجنګوخبري نه وای دمیني یوقیصه وای

محبت وای ددوستانو پرباغونومومیله وای

تضادونه دلته نه وای هریو خپل په کاراخته وای

هریوخپل پرلاررروان وای عقید وته مو سلام وای

دهیواد خلک وای ورونه مختلف دي وای دینونه

که هندو که مسلمان وای ټول پریولاره روان وای

موسیقي اوښه نڅاوای هرهنر د لته آزاد وای

رازدمیني یوخماروای مینه هم د لته ازاد وای

هم مسجد هم بتخانه وای هم شراب هم میخانه وای

زه او ته وای د ګلا نو یو با غچه وای

دشیطان څه بیره نه وای ازادفکرته ایله وای

کشکي ټوله داسي ښه وای دجهان سرحد ایله وای

دابځرکی یو لمبه وای تاریکي به هیڅ وخت نه وای

په داټولوکښي موحق وای دنا حق خبري نه وای

**ماته دسبا خبري مه کوه**

دادنن پرحال ږغیږو د سبا خبري پر یږ ده
چاه ته هغه چي رسیږي دعقباء خبري پریږده
قسمتونه خودی خپل دي دهرچاه خبري پریوده
دذاهد دي وي خوله خلاصه دته داخبري پریږده
دده نصیب به وي سبا ته ته نن داخبري پریږده
دخیام جام پیمانه که د بل چاه خبري پریږده
موږ ته رب دي په انصاف را تقسیم کړي
په انصاف چي رارسیږي دقضاخبري پریږده
دخمارد روازې ماتي که په تبر، مست یوجام وڅنګ ته کښیږده
دسرومیو پیمانه ده چي دتاک دزړه را وزي
یو نشه په کښي پرته ده دانسان دزړه راوزي
پردې جوړه میخانه ده دملاخبري پریږده
قسمتونه خودی خپل دي دهرچاخبري پریږده
مجنون مینه دلیلا کړه چي نشه ئې ازلي وه
ددنیا څه بې پرواسودپروا خبري پریږده
میخانه اومسجد دواړه د د نیا دوداودستوردی
که ترمنځ په کښي بیلتون وي ته بیاداخبري پریږده
دننګیال بڅرکي خیال دپروند ولاړی هیرپرهیرسو

دازادفکردوران دی دخیالونوددوران خبري پریږده

**سم ژوند**

اوردي واخلي دا رقم چي نه سازوي نه سرګم

کله ښا د وي هغه قوم هره ورځ ئې وی یو غم

که ښادي وی اوکه غم پردوی جوړوي سم ماتم

دخوښۍ ورځي ئې کمي په جنګو کښي ئې رقم

خوشحالۍ په کښی محکومي دغه حال دی دوطن

اوردی واخلي داوطن چي نې سازوي نې سرګم

میخانې ئې وي ړنګ کړي یو خیال نه وي دصنم

دادهغه شیطان کوردی چي عشق سوځوی په هردم

دخپل ځان اختیارئې نه وي پردی فکر پردی چم

چي شفاء ورباندي کیږي پرهغه لاري به ځم

چي خمار هلته ما تیږي هغه ځای ته به ورځم

اوردی واخلي داوطن چی نې سازوي نې سرګم

ساقي هلته ښاد اومرادوي چي بورا وي او پتنګ

هر د کان د میو ډ ک وي دې بازارته به ورځم

چي نې ساز نې ترانه وي دغه ځای به څه کوم

چي رندان په کښی خمار وه ددې ښاره ووتم

دابښا رپا ته دی له مانه وملا تې ورپرېږد م

اور دي واخلي دا وطن چي نې سازوی نې سرګم

ښکلی جام میده،میده سؤ دا ا رمان پرزړه سا تم

دخیام جام ئې چپه کی دهغه څخه ګیله من

دادهغواراد ویو تماشه وه چي ګیله ځیني کوم

که وطن ښکلی بهاروي دا بها ربه څه کوم

پتنګان به هم غم ګین وي چي پرباغ ئې وي ماتم

اوردي واخلي داوطن چي نې سازوی نې سرګم

**ازاد شعر**

پرهیواد مي سخت جنګ تیرسولاروان دی

د ژوند ون تو ښه مي ټوله پوه پنا سول

کاروان خپل په مخ کښي سخت خنډونه ویني

پرهیواد توپونه اوري د را کیټوشرنګهاردی

کاروان هم زخمی ،زخمی سؤ دهیواد می دغه حال دی

غلیم بیا لستونی نغښتي خدای نا ترسه قصابان دي

هرسرحد په وینو سوردی دځوانانو دغه حال دی

تر تیاره اسمان تر لاندي چیغي اورم دپیغلا نو

تر سرو با دونو لاندي غلبلي دی د کوچنیانو دلویانو

ګرانی مندي لا لهانده سرګرداني په زامنو او بچیانو

نظامونه را بد لیږي خوښی نه سته پرهیواد دافغانانو

سرپرسراورونه بل دي دې هيوادكي دښاريانو

دكاروانونو سلسلې دی دهجرت د مجبورانووطنوالو

نهنګان هم په ماړه سوه دبحرونو پرراغلو قاچيانو

ترداتورآسمان ترلاندی هم نارې دي د بيوزلوانسانانو

غم ځپلوميند وخپل اولاد په غيږ كی دی نيولی اوساتلی

خښميدلي دي بحرونه ،سا حلونه هم توفان وي پركښتيانو

دبريښناؤسرې لمبې سي،په آسمان كی هم دتالندی غړومبها رسي

زوی د مورچيغاري اوري،زوی د مور څخه جلاسي

دباران توفان كم نه وي خښميد لي څاڅكی اوري له آسمانه

پرسرونواو جسمونو انسانانو،مرحومانوزنده جانواوخوارانو

ميډ يا هم خوله كړی خلاصه هم پوخ سي كارد خبر يالانو

جهان خپل په پلان اخته دی باق ئې نه سته دخوارانو

پرهيواد غلا م برلاس كړي هم برلاس د جا هيلا نو

بې سواده سرپرست كښي نوم اوكا رئې سي دوزيرانو

مفتي خپل كتاب را ټول كړي ملا ووت د مسجده

وخت ئې تيرهم دآذان سي خطيب هم صاحب دامتياز سي

طالبان هم ډلی ، ډ لی پردې ښارهجوم را وړئ

ښاري ژوند ته په حيرت دي ،تمدن ته په حيرت دي

ښځي نه پريږدي له كوره ښځي بندی له كارونو،بازاړنو

فرمانونه دي باديږي دفرمان په سرکښي ښځي محروميږي

هم دعلم څه محرومه بند ئې کړله مکتبونه، پوهنتونونه

دپرد يو ترلاس لاندى دهيواد ښيګڼي نسته نه به راسي

دلته جنګ دسرمائې دى دافغان ښيګڼي نه سته نه به راسي

زموږ وحدت په کښي زيان من سؤدلته ښې ښيګڼي نسته

ځوانان ټول ولاړه بحر ته،ذهني شرايط نه سته يوګوند هم مستقيل نه سته

دغه ټوله لو يه دسيسه ده غبرګون هم د نړى نه سته نه به راسي

چي تر څومو دا ژوند ون وي اودښمن مو هم معلوم وي

حق به کله اخيستل کيږي دا کارونه په زاريو په جګيوکله کيږي

طالب ستا دلاري نه ؤ ستا پرلاره روان نه ؤهم ئې زوردقد رت

ستا پرملک لوى سوى نه ؤ، دلتې درس ويلى نه ؤ،تمدن ئې هم ليدلى نه ؤ

اوس راغلى سياست ته ،چاه را پورته کى قد رت ته،دسلاحومهارت ته

يو ده بل سره جنګيږو په جهاد باندى نازيږو،دسرحده را تيريږو

دهيواد اخيربه داوي چي ټولنه قانونى سي،تعليمي معياررسمي سي

دښمن هم را ته معلوم سي دهيواد حالت به ښه سي،ښځي کارته وررهى سي

ملا يان موهم رسمي سي،بيګانه ملا بندي، تعلم هم ورته جبري سي

دادعلم څراغ بل سي ټوله زده کړى هم پر ښځه اوهم پرنرسي